بسم الله الرحمن الرحيم

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډې کیسې


# پردی ماشوم

ژباړون
نجیب الله زړګی علیخېل

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب چاري دژباړون په حق کي خوندي دي




◈ کتاب :: پردی ماشوم

◈ ژباړون :: نجیب الله زړگی علیخېل

◈ کمپوز :: نجیب الله زړگی علیخېل

◈ اي مېل :: alikhailnajeeb@gmail.com

◈ موبائل نمبر :: 03023823974

◈ سیټینګ، ډیزائن :: خلیل الله تصمیم

◈ پوښتی :: محمود رشي

◈ تعداد :: 500

◈ خپرونکی :: سباوون پښتو ادبي ټولنه کوټه

◈ لومړی چاپ :: 2015 ع

◈ بیه :: 100

**د موندلو درک :** نیو کالج پبلکېشنز آرچر روډ کوټه

کتاب پلورنځی، ریگل پلازه دکان نمبر ۷ جناح روډ کوټه

ال جان پبلشرز شېراني مارکېټ عبدالستار روډ کوټه

غزنوي کتب خانه قندهاري بازار کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تړون

د هغه سپېڅلي انسان په نوم چي د پښتو او پښتنو سره يې
بې کچه مينه وه.
هغهٔ ځير بابا چي مونږ ته يې سوچه پښتو را پاته ده.

## خان شهيد عبدالصمد خان بابا

زرګی علیخېل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

د تنظیم ملګري لیکوال کوټې او سباوون پښتو ادبي ټولنې کوټې و ټولو ملګرو ته ډالۍ چې د دوی په صحبت کې زه دخپلې مورنۍ ژبې

(**پښتو**)

سره اشنا او خدمت ته يې چمتو شوم.

زړګی علیخېل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د زرڅکي ادبي سفر

افسانه یا لنډه کیسه لیکل جلا او ژباړل جلا جلا کار دی. دلته دا خبره زهٔ په دې نهٔ کوم چي ګټنې څوک به نهٔ وي په خبر، ما هسي پر دې کتاب باندي د څه لیکلو پېل له دې خبرو وکړ. ولي چي زهٔ خو نهٔ محقق او نهٔ نقاد یم، زهٔ بس تر شوق تر حده کله کله پر افسانه قلم راو اخلم. لا تر اوسه مستند افسانه نګار هم نهٔ یم ولي چي زما ټول تخلیق لا شو پتو دلي دوري پروت دی. په ډرامې به مي نشر شوي خود وي.

خبره اوږده شوه، زهٔ راځم د زرڅکي په لور کوم چي پر مورنۍ ژبه ډېر مئین دی او د مورنۍ ژبه په خدمت نهٔ ستړی کېږي نو ځکه یې ماته هم ستړیا را اچولې ده، خو دی ملامت هم نهٔ دی، ماته یې د دوستۍ په خاطر شاید چي ووئیل چي زما پر دې ژباړلي افسانو څه را اولیکه نو دغه دی چي قلم مي باندي راختستی دی. ولي چي کله ما ژباړه وکتله، ولوستله نو د زرڅکي انداز د ژباړې خوند راکړی. ولي چي ما محسوسه کړه چي ما بین الاقوامي ادب او د هغه څه افسانې په پښتو کي ولوستې. زهٔ نهٔ یم خبر چي زما له دې خبري سره به څوک اتفاق وکړي او که نهٔ؟ خو زهٔ دا سند هم نهٔ غواړم. زهٔ زرڅکی ستایم چي د مورنۍ ژبي په لائبریري کي د زرڅکي یوه بله اضافه هم وشوه. ولي چي هغوی څه موده مخ کي د نظم او غزل یوه مجموعه هم مورنۍ ژبه ته ډالۍ کړې ده.

د زرڅکي د ژباړل شوي افسانو یا لنډو کیسو دغه غونچه ډېره په زړهٔ پوري ده. زهٔ دا لیکل نهٔ غواړم چي څو افسانې، د چا او چا افسانې دي، او زما رقم ستومانه سړي ته د کتاب په باب معلومات ولیکم او بیا هغه دعوه ګیر شي چي دغه او دغه د زرڅکي په ژباړل شوي کتاب کي شته، بلکه زهٔ دا غواړم چي کتاب دي ولوستل شي. او بله خبره دا ده چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوني نامتو خلکو تخليق ژباړل هم لويه زړورتيا ده. او بيا خو زړګي د زړهٔ په خوښه دا کار کړی دی. زړهٔ په خوښه چي کوم کار کېږي په هغه کي نتيجې ته نهٔ کتل کېږي چي آخري پای به يې څه وي. نو د زړګي د زړهٔ په غورځنګونو کي د مورنۍ ژبه بې کچه مينه په غورځنګ ده. بايد چي مورنۍ ژبه وياړ باندي وکړي. ما دمورنۍ ژبي خبره وکړه، که څوک د مورنۍ ژبي خدمتګاران يې پرله اړوي را اړوي هغوی ته اختيار دی چي نقد دي باندي وکړي.

د زړګي سره زما تعلق شته خو استعمال ډېر کم خو هغه صفتونه لري چي د ژبو د استاد، د مشرانو او و دهٔ ته ور تېر دوستانو ته عزت ورکوي، خو په خپله يې نهٔ ځني غواړي. خدای دي وکړي چي د زړګي دغه ادبي سفر دي هم تر پايه داسي ځوان وي. د زړګي دغه ژباړه پر لوستلو جوړه ده، لائبريري به په درنه هم شي او که چا د بل پردي په ثقافت رويو ځان خبرولی نو دغه افسانې د وئيلو وړ دي. پر دې به خلک دا ومني چي پښتو ، پښتون او د هغه ثقافت کلچر خو رواجونه لري، هغه ځکه چي موږ په ډيرو ځايو کي اول پښتانه يو په آخر کي دعا په عربي کوو.

په درناوي

پائيدين ګران اڅکزی کوټه

ډائيرېکټر، قدرت، ايچ ډي، ټي وي

پښتو ږغ د پښتنو

۰۷،۰۸،۲۰۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د زړګي زيار

د ژبـاړي د اهميـت او ضـرورت څخـه څـوک انکـار نـه شـي کـولای، ځکـه چـي ژبـاړه د يـوي ژبـي د ادب لپـاره داسـي ده لکـه يـو بـڼ تـه چـي د اوبـو سـره سـم امبـاره (سـره) هـم ورکـړي. د بـڼ توانـائي لا سـېوا شـي. و بـڼ تـه نـوي نـوي دربچـې راخلاصـي شي چي لـه هغـه څخـه تـازه هـوا راځـي او ورسـره ورسـره نـوي خوشـبوياني د کـومي ژبـي د ادب چـي د ژبـاړو د اهميــت احســاس کــړی دی او ليکوالــو توجــه ورکــړې ده هغــه ژبــي او ادب ته پر مخ تللو ژبو په قطار کي ليدل کېږي.

پـه خپلـه ژبـه کـي د ژبـاړو ګټـه دا وي چـي زمـوږ لوسـتونکي لـه نـورو ادبيـاتو سـره معرفـي کـوي. او د هغـوی فکـري زاويـې ور پـه ګوتـه کـوي. ورسـره سـره داسـي موضـوعاتو تـه يـې پـام اړوي چـي هغـه زمـوږ لپـاره مهـم نـه وي پاتـه شـوي. بلـه ګټـه يـې دا ده چـي د هغـوی د کلتـور، ټـولنيز ژونـد، د مينـي او نفـرت لـه رويـو څخـه يـې خبـروي. تـر څـو چـي يـو ليکـوال د خپـل چاپېريـال کلتـور او تـاريخ سـره د ګاونـډيو ژبـو او قـامونو د چاپېريـال کلتـور او پـر مـخ تللـو ژبـو د ادبي معيـار څخـه خبر نـه وي، نـۀ شـي کـولای چـي د ښـه تخليـق ښنـتن وګرځي. زمـوږ ژبـه پـه علمـي حوالـه پـه هغـه قطـار کـي ولاړه ده چېـري چـي ژبـي اخـري سـلګۍ وهـي. د ادبيـاتو پـه حوالـه کـه څـه هـم زمـوږ ژبـه غنـي ده خـو د نـورو ژبـو د ادبيـاتو لـه ژبـاړو څکـه لا تـر اوسه پوري هغه رنګه برخمنه نه ده څو مره چي اړتيا لري.

د هـم دې اړتيـا لـه کبلـه ځـوان ليکـوال زړګـی عليخېـل د لنډو کيسـو پـه ډګـر کـي خپلـه دا هڅـه کـړې ده. دا هڅـه څـومره ښـه او کاميابـه شـوې ده خـو د دۀ خلـوص او دې خـوا تـه پـام اړول دا ګـواهي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکوي چي دی د ژبي په عصري غوښتونو خبر ځوک دی. دی په دې پوهېږي چي د ژبي شتمني په څه کي ده او په کوم څه باندي زیاتېدی شي. کوم څوک چي کیسه لیکي د هغوی لپاره په دې کتاب کي د اهیئت په هکله د مواد و په هکله د خیال په هکله او د تکنیک په هکله ډېر څه موجود دي.

زۀ هیله لرم چي دی به پر مخ هم دا کار هم دا رنګه جاري ساتي. ایراني ادب او روسي ادب سره سره به د نورو قامونو د کیسو سره به موږ معرفي کوي.

تر دې زیات د اهمیت وړ کار دا دی چي د خپلي ژبي کیسې هم په هغو ژبو کي وژباړي له کومو ژبو چي زړګي ژباړي کړي.

ځکه څومره چي زموږ ژبه د نورو ژبو و ژباړو ته اړتیا لري له هغه څخه زیاته اړتیا دا ده چي د دې ژبي فنپارې په نورو ژبو کي وژباړل شي. کو مه څهره چي و نړیوالو قامونو ته د پښتانه قام ښکاره شوې ده، د هغه پر ځای به د پښتانه اولس اصل څهره رابرسېره شي. ځکه چي ادب د قام هینداره وي. چي په هغه کي د قام څهره لیدل کېږي او هینداره کله هم دروا غ نه وای.

د زړګي علیخېل چي څومره تخلص ښکلی دی دومره دی ښکلی دی، هومره یې لیک ښکلی دی. د دۀ دا زیار د ستائلو وړ دی، په دې چي انتخاب یې خوندور دی.

دعا کوم چي د دۀ دا ښکلایز سفر به هم داسي جاري وي او پښتو ادب ته به نور ښائسته رنګونه هم راوړي. امین

پروفېسر ډاکټر نصیب الله سیماب
پښتو څانګه، بلوچستان پوهنتون، کوټه
۱۹،۰۵،۲۰۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوڅو خبري

زما په مخ کې د زړګي علیخېل د افسانو ژباړل شوې مجموعه پرته ده. په دغه مجموعه کې ګردي اته افسانې ځای کړل شوي دي. په دې کې یوه افسانه (دم واپسي) له فارسي څخه په پښتو ژباړل شوې ده. چي په پښتو کي ورته د (د نجات دروازه) نوم ورکړل شوی دی. یوه د روسي ژبې د نامتو ادیب چیخوف افسانه ده چي اول ځل په اردو کې مشهور افسانه نګار سعادت حسن منټو د (خادمه) په نامه را اړولې وه او زړګي یې د (مینځې) په نامه پښتو ژباړه وړاندي کړې ده. دغه رنګه دا شپږ نوري افسانې له فارسي ژبې څخه پروفېسر فضل حق محمود پخپل کتاب (محرم راز) کي په اردو ژباړلي دي. چي زړګي یې پښتو ژباړه کړې ده.

ولي چي پښتو ژبه د ژباړو په ډګر کي تر دا وخته پوري بېخي شا ته ده. د یوې ژبې ادبي لمن هغه وخت نور پراخوالی او بشپړتیا مومي کله چي د نورو مترقي ژبو ادبي ژباړې ورکي ځای کړل شي. د ژباړې د پاره یقیناً د هغه ژبې په کره وړه، ضرب الامثالو، محاوراتو او په لوغتو پوهېدل ضروري ګڼل کېږي. په دې هکله موږ د زړګي د (پردي ماشوم) په ژباړل شوي افسانه کي له دې لاندینۍ ټکو څه اندازه کولای شو چي هغه څومره قدر و دې سمندر ته لاهو شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ټکـــي**؛ "مـا د لمانځـه ټکـری پـه سـر کـړی، ماشـوم مـي د لاسـه ونیـوی او لـه کـوره راووتـم. زمـا زوی د درو کلـو ؤ. هغـه پـه خپلـه تللی شو بس دغه یو بد ؤ چي هغه په خپله تللی شو".

زمـا پـه خیـال "زړګـي "پـه دغـه ژبـاړو کـي دغـه یو کمـال کـړی دی، چـي د یـوه قـاري ادبـي تنـده مـاتوي او دومـره روانـي پکښـې ده چي سړی له ځانه سره بیایي.

هیلـه ده چـي نـور پښـتانه لیکـوال بـه هـم و دغـه ژبـاړو تـه متوجـه شي او د پښتو ادب لمن له نورو نورو ملغلرو څه ډکه کړي.

په درناوی

سید خېرمحمد عارف... کوټه

۲۵،۰۴،۲۰۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپلي خبري

د يوې ادبي فنپارې ژباړه يو داسي ګټور زيار دی چي د مورنۍ ژبي د ادبياتو په لمن کي خپله څه په پښتني مينه اچولی شې.

ډېر وخت مخ کي مي د يو مشر ليکوال څه دا خبره اورېدلې وه. دغه خبره مي په زړۀ لکه د کاڼي کرښه ولګېده. او دا دی د يو څو لنډو کيسو چي زياتره د ايراني ادب دي او يوه په کي د روسي ادب ده ژباړې د ملګرو مشرانو په پښتني همت او ډاډه ستاسو په لاسو کي د کتاب په شکل تر تاسو در ورسول شوې.

زۀ دا دعوه نۀ کوم چي ما د ژباړي په هکله چي کوم قانون يا کومه عقيده چي زموږ د ادب پوهانو تر منځ پرته ده، ما تر سره کړې ده. خو خپل زيار مي پوره پوره ورسره کړی دی چي زۀ د ژباړي معيار قايم وساتم.

دا اوله هڅه په دې ستاسو ميزان ته سپارم چي تاسو زما اصلاح او روزنه وکړی. او زۀ پس له دې د نورو ژبو ښه ښه تخليقات و خپلي پښتو ته را وژباړم.

د محترم محقق او پوه اديب سيد خېرمحمد عارف صاحب او د ښاغلي پروفېسر ډاکټر نصيب الله سيماب صاحب يو جهان منندويم چي د دې ژباړو په هکله يې ماته ډېره مينه او ډاډګيرنه راکړه. او د دې کتاب سريزې يې په ورين تندي او پښتني ميني اوليکلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پردی ماشوم** **زرګی علیخېل**

د خلیل الله تصمیم هم منندوی یم چې د دې کتاب د کتابت په هکله یې له ما سره ډېر کومک وکړ.

هیله لرم چې زما دا مانده هڅه به ستاسو په نظر ښه راشي.

نور ستاسو وخت نه اخلم تاسو و کتاب لوستلو ته پرېږدم.

ماته اجازه والسلام

په مینه او درنښت؛ ستاسو

زرګی علیخېل
سهېلي پښتونخوا کوټه اولسوالي
۲۰۱۵،۰۴،۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پردی ماشوم

نـور نـو مـا څـۀ کـولی شـوې؟ زمـا خاونـد زمـا د ماشـوم سـره کـور جوړولـو تـه تیـار نـه ؤ....... دا ماشـوم خـو د هغـه نـه ؤ........ دا خـو زمـا د اول خاونـد ؤ چـا چـې ماتـه طـلاق راکـړی ؤ، او بیـایې بیرتـه د دې ماشـوم د غوښـتلو دپـاره مـخ هـم نـه ؤ را اړولـی...... پـه داسـي حـال کـي کـه زمـا پـر ځـای بلـه یـوه وای نـو هغـې بـه څـۀ کـړي وای؟ اخـر زۀ هـم خپـل د سـباوون فکـر اخسـتې وم........ کـه پـه دې خبـره زمـا خاونـد ماتـه طـلاق راکـړي نـو بیـا بـه زۀ څـه کـوم؟ د دې مـا سـوا لـه مـا سـره بلـه لار نـه وه، چـې څرنګـه وي زۀ بـه لـه دې ماشـومه ځـان خلاصـوم.......... زمـا رنګـه بـې عقلـه لـه دې ماسـوا بـل سـوچ کـولی هـم نشـي........ ماتـه یـوه لار یـو ځـای هـم نـه رابښـکاره کېـدو........ خېـر...... یـوه لاره خـو شـته...... زۀ بـه دا ماشـوم و یـو بې اولاده تـه ورکـړم خو پـه دې بـه ځـوک دې تـه راضـي شـي؟ زۀ بـه چاتـه د خپلـي لمنـي د پـاکۍ ثبـوت ورکـوم چـي دا زمـا خپـل زویـي دی دا د حـرام او زمـا د بـد عملـۍ ثبـوت نـه دی........ یـا زۀ دا لاره نه شم خپلوی...... زما غېرت ماته دا اجازت نه راکوي.

پـه هغـه مـا ځیګر کلـه چـي مـا لـه دې ماشـومه ځـان خـلاص کـړی نـو پـه کـور کـي مـي د خپـل مـور او ګونـډیانو ښـځو تـه ټـول حـال ووئیـل. یـوې ګونـډې راتـه ووئیـل چـي ولـي خـوري؟ د یتـیم خـانې واکداران څـه مړه وو. خدای خبر نـوریې هم څۀ څۀ راتـه ووئیـل خـو مـور مـي ډېـر پـه درد سـره دا خبـره وکـړه چـي....... زمـا خـو لـه دې خیاله لا ترا خیږي........ په دې خبره زۀ ډیره فکر منده شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایا ماته هم له دې خیاله ترا نه راځي؟ بیا مي مور ته ووئیل چي کشکې ما دا کار نه وای کړی....... خو اوس هیڅ کېدای هم نشي....... او به له سره تېري شوې. زهٔ له خپله واکه ووتم او د ټولو په مخ کي مي چغي شروع کړې. خو دا ډېره بده خبره وه یوې ګونډې دا اووئیل چي! اوس یې مکارو اوښکو ته وګوری....... مور چي زما دې حال ته وکتل نو یې په غیږ کي ټینګه کړم او ډاډګیرنه یې راکړه راته یې اووئیل چي زویه! ته ځوانه یې....... د یوه ماشوم دپاره خپله ځواني مه خرابوه، او بیا دا ضروري ده چي ستا دا دویم خاوند ستا زویې نه کړي قبول. اوس هم وخت ډېر شته مخ ته دې ټول ژوند او روښانه سباوون پروت دی........ یو ماشوم پرېږده ته د ډېرو ماشومانو مور جوړېدی شې.

خو بیا هم هغه زما اول اولاد ؤ. هغه په ما ډېر ګران ؤ ماته دا کار نهٔ پکار چي ما کړی وای....... ما خو دا کار په خپله خوښه نهٔ کړی...... دې ماشوم زهٔ هیڅکله هم نه وم ځورولې.......... ما له دهٔ ځان نه خلاصوو. زما د خاوند په وار وار وئیل زهٔ دې کار ته مجبوره کړم........ لاکن د هغه هم قصور نه ؤ. کله چي ما د هغه سره نکاح وتړله هغه ته دا حق ؤ چي هغه دا غوښتنه وکړي، که زهٔ د هغه په ځای وای نو کېدای شي چي ما هم داسي غوښتنه کړې وای.......... هو! که زما د خاوند هم یو اولاد وای نو ما به هغه خپل اولاد ګڼلای......... خپل د اولاد غوندي به مي مینه ورکوله........ د هغه دا مطالبه خپل په ځای ټهیک وه........ لکه څنګه چي هغه اووئیل چي! زهٔ د بل اولاد په دې کور کي نه شم ساتی. هغه دوې ورځي کومي چي ما د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره تېري کړې هم په دغه خبرو تېري شوې........ په اخري شپه تر ډېره خبري رواني وې داسي نه چي دا زموږ د ميني او ارمانو خبري وې...... نا.... بلکې خبري دا وې چي هغه د بل اولاد په دې کور کي نه برداښتوو. او ما چپه خوله دا اورېدل....... اخر مي ورته او وئيل چي ته راته لاره وښايه....... ته يې يو درملنه په لاس راکړه؟

زما خاوند اول خو تر ډېره چپ ؤ بيا يې راته او وئيل چي زما په هيڅ سر نه خلاصېږي ته پوهېږې........ دا ستا کاردی هر څه چي کوې خو دا مي واوره زۀ په دې کور کي خپل اولاد ليدل غواړم د بل نۀ.

هغه چي هم يوه لاره په لاس را نه کړه نو ما به څه کولی شوې...... په هغه شپه هغه زما خوا ته په مينه کتل هم نه لکه هغه چي له ما په ډېره لويه ګنا خوابدی وي........ زموږ د وادۀ صرف درې شپې شوي وې او دا درې سره شپې په خوابدی تېري شوي وې...... هغه غوښتل چي څومره زر کېدا ای شي دا ماشوم له دې کوره ورک شي. سهار چي وتی نو يې راته او وئيل چي ما ښام زۀ دا ماشوم په دې کور کي نه ووينم. پوهه شوې.

نه پوهېږم چي څنګه زما زړۀ و منل حالانکې په دې کار کي زما هيڅ اراده نه وه چي زۀ به دا کوم.

ما د لمانځه ټکری په سر کړی، ماشوم مي دلاسه و نيوی او له کوره راووتم. زما زوی د درو کلو ؤ، هغه په خپله تللی شو بس دغه يو بد ؤ چي هغه پخپله تللی شو. دا ډېره بده خبره وه هغه اوس ژړل هم نه......... د شپې د خوبه هم نه راويښې دی........ اوس هغه زۀ نه څورولم خو زۀ په دې کار کولو مجبوره وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټرام (بس) تـر اډې پـوري پـه پښـو ولاړو....... مـا هغـه تـه ځیرشوم چې څومره ښکلې او ښایسته ده، هغـه پـه ښکلي جـامې ورپـه غـاړه کـړې وې. هغـهٔ جـامې کـومې چـې زمـا اول خاونـد زمـا لـه طلاقـه څـو ورځـې مـخ کـې د دهٔ دپـاره جـوړې کـړې وې....... مـا چـې کله دهٔ تـه جـامې ورپـه غـاړه کـولې نـو پـه خیـال کـې مـې دا راغلـو چـې اې ښـځې! اوس ولـې دې ماشـوم تـه نـوې جـامې ورپـه غـاړه کـوې؟ زمـا زړهٔ نـه ومنـل. مـا د هغـه وېښـتان هـم جـوړ کـړې ؤ هغـه ډېـر ښائسـته ښـکاره کېـداى....... پـه يـوه لاس مـې د دهٔ لاس ټينـګ کـړى ؤ او پـه ا بـل لاس مـې ټکـرى پـه سـر ټينـګ کـړى ؤ. زهٔ کـراره کـراره روانـه وم اوس د زغـرد تللـو تـوان زمـا پـه پښـو کـې نـه ؤ...... دا اخـري وار ؤ چـې د هغـه لاس زمـا پـه لاس کـې ؤ. دوه درې واره يـې د کولچـو غوښـتنه وکـړه خـو مـا بـه هـر وار ورتـه وئيـل چـې لـږ صـبر شـه چـې پـه ګـاډى کـې کښـېنو نـو يـې درته اخلم..... هغه زما خبره و منله.

دا اوس د يـو څـو ورځـو مـخ کـې د يـو اس پښـې د مـردارو اوبـو پـه يـو ډنـډ کـې نښـتې وې او خلـګ تـرې را چـاپېره وو هغـه ماتـه پـه ضِـد شـو چـې مـا پـه غېـږ کـې ورپورتـه کـړه زهٔ يـې ګـورم چـې هلتـه څـه دي؟ مـا هغـه خپـل پـه اوږو کښـېناؤ هغـه وکتـل چـې د اس پښـې پـه ډنـډ کـې نښـتې دي لـه ورانـهٔ يـې وينـې روانـې دي کلـه چـې مـې ځمکې ته کى نو يې راته او وئيل؛ مولا مولا اس ويني دى.

مـا ورتـه وئيـل هـو زړګيـه! هغـه خپـل د مـور خبـره نـه منلـه ګـوره چې اوس خوږ شو.

د ټـرام (بـس) تـر اډې مـې راوسـتى د سـهار وخـت ؤ پـه ټرامـو (بسـو) کـې ډيـر زيـات خلـګ وو. د نيـم سـات انتظـار وروسـته پـه يـوه بـس کـې ځـاى راتـه مـلاؤ شـو. د بـس د راتـګ نـه مـخ کـې ماشـوم ډېـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



زهیر ؤ، زۀ هم ستړې وم....... هغه څو ځلي دا پوښته وکړه چي مولا مولا ګاډی ولي نه لاځي.... دلته سیان اخو.

او ما به هر ځل دا ورته وئیل چي اوس ګاډی راځي په ګاډی کي چي کښېنستو نو به شیان درته واخلم. په اوه (۷) نمبره ګاډی کي کښېنستو او تر مېدان شهه پوري راغلو. په ګاډی کي زما یاد دي چي ماشوم ماته وئیل چي مولا موز څیلي ځو؟

نی، ولي ما ورته ووئیل! ستا بابا له.

ماشوم راته کتل خدای خبر چي په ضد او که ناخبریې راته ووئیل چي د کوم بابا کله مولا؟

زما له وسه ووتو....... ورته په خشم شوم چي زړګیه! ته ډېري خبري کوې اوس که دي بله خبره وکړه. نو پوه شه چي شیان نه درته اخلم.

اوس زۀ فکر کوم چي د ماشوم زړۀ مي ولي ازار کړو؟

ولي مي هغه چپ کړو؟ ولي مي د هغه معصوم زړۀ مات کړو؟

کله چي زۀ له کوره وتلم نو ما له ځان سره قسم کړی ؤ چي تر هغو پوري مي دی ځای ته نه وي رسولی زۀ به دۀ ته هیڅ هم نه وایم....... زۀ به په مینه ورسره خبري کوم......... اوس ګوره څومره افسوس راځي هغه به څۀ سوچ کړی وي چي زما په خشمېدو تولـه لار غلی ؤ او د ګاډی د منشي سره په خبرو اخته شو کوم چي هغه دی د خندولو د پاره ورته قسم قسم شکلونه جوړول.

په مېدان شهه کي چي کله له ګاډی راکوز شو نو هلته هم په خندا ؤ. په مېدان شهه کي د پښې د ایښولو ځای نه ؤ....... ګیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاپېره موټري او بسونه ښکاره کېدل....... اوس نو فکر منده شوم چي په ماشوم څه وکړم؟ لږ سات روانه وم زما د خياله چي نيم سات به تېر شوی وي موټري او بسونه څه کم شول. زۀ د مېدان غاړي ته ورسېدم له جېبه مي لس (۱۰) شاهي (روپۍ) را اوويستې او ماشوم ته مي ورکړې....... هغه حيرانه پرېشانه ماته کتل ولي چي هغه تر اوسه په پيسو څۀ څيز اخستلو باندي نه پوهېدو. په مېدان کي يوه سپين ږيري د خټکي زړي خرڅولې........ ما ماشوم هغه خواته ولېږی. چي زۀ وګورم چي زما زړګی څه څيز اخستی شي که نۀ؟ ورشه هغه شيان واخله.

ماشوم پيسو ته وکتل بيا يې ماته وکتل هغه نه پوهېدی چي څيز څنګه اخستل کېږي....... تر اوسه ما دی په دې کارو نه ؤ پوه کړی. هغه رڼ بڼ ماته کتل....... توبه خدايه څنګه کاته يې ؤ داسي معلومېدو چي سم دستي به مي زړۀ له کوګله راووزي.......... زما طاقت سو که سو که په ختمېدو ؤ........ ما د هغۀ د کتلو تاب نه درلود...... له هغه وخته تر دا اوسه پوري پر ما څه تېر شول زۀ ښه پوهېږم.

هغه داسي راته کتل لکه چي يوه پوښتنه کوي ما د خټکي د زړو خواته اشاره وکړه چي ورشه دا پيسې ورکړه او ورته وايه ماته زړي راکړه...... هله شاباش.

ماشوم زړو ته وکتل او ځان يې د ژړوندوکي غوندي کړو او اووئيل چي زۀ زوني نه اخم زۀ تسمس اخم....... زۀ يې پرېشانۍ ته واچولم....... ماشوم جوړ کار را خرابوئ. خدای مۀ که! که هغه ژړلي وای نو ما به څه کول...... زۀ اول لا په سکروټو اوښتم....... ما په څه زيار په زړۀ ډبره ايښې وه که ماشوم ژړلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وای نو ما خو خپله ناپاکه اراده پرېښې وه....... لاکن ماشوم نه ژړل زهٔ خپله وار خطا وم...... نه یم خبره څنګه مې ماشوم ته ووئیل؛ هو زړګیه! د هغه سره کشمش هم شته ورشه چې څه دي زرهٔ ته کېږي هغه پرې واخله اوس ور هم شه.

بیا ما هغه په غېږ کې واخستی تر نالۍ مې وا ړوئ بلکې د سړک (واټ) تر غاړه ورسره ولاړم......... ما د هغه لاس پرېښودو ورته مې اووئیل هله شاباش چې ناوخته دی زر ځیزو نه واخله او راځه.

عجبه اتفاق ؤ په دا وخت په سړک (واټ) یو موټر هم نه ؤ..... موټر خو لا پرېږده رخشه هم نه وه چې د ماشوم د لاندي راتلو خطره وي........ ماشوم دوه درې قدمه مخ ته ولاړی خو بیرته راوګرځېدئ.

مولا! مولا! هغه سله تسمس ته؟

هو زړګیه ورشه ورته وایه ماته د لسو روپو کشمش راکړه، او ماشوم ولاړی.

ماشوم د سړک (واټ) تر مینځه لا نه ؤ تللی چې د بس هارن مې تر غوږو شو..... زهٔ له ویرې راپاڅېدم او په هله مې ماشوم ته ځان ورسوو او په غېږ کې مې راواخستو........ د لېونیو غوندې تر بس پورې ورسېدم. په خولو کې لوښته بوښته شوم...... بدن مې ټول په رپا ؤ. ماشوم وئیل چې مولا څه وسو؟

زما زړهٔ راډک شو او مې ورته اووئیل چې! هیڅ نه زړګیه خدای مه که تهٔ تر ګاډی لاندي کېدې.

ژړا تر خولې راغلې وه خو ماشوم راته وئیل؛ ما چته که زهٔ تېجه منده کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ماشوم دا نه وای وئیلي نو زما هېر ؤ چي زۀ د کوم کار پسي راغلې وم....... لاکن د ماشوم خبري زۀ بیرته خپلي ناپاکي ارادې ته تیاره کړم ما د خپلو سترګو اوښکي پاکي کړي نه وې چي ماته د خپل خاوند خبره رایاده شوه ......... که هغه نن ماشوم په کور کي ولیدی نو خدای خبر چي پر ما به څه قیامت راځي........ ما ماشوم ښکل کړو. دا اخري ښکلول ؤ چي ما د دۀ په ښائسته ښائسته سرۀ سرۀ اننګو کړی وو. ماشوم مي په ځمکه کښته کړو او په غوږ کي مي ورته اووئیل. ورشه دې ځلي تېز ولاړ شه او ګوره چي د ګاډی لاندي رانه شې. په سړک (واټ) دې ځلي بیا هیڅ قسم موټر یا رخشه نه وه چي د ماشوم ځني خطره وه.

ماشوم دې ځلي تېزه منډه کړه د هغه وړوکي وړوکي پښو ډېر په تیزی سره حرکت کولو. زه وډاره شوم چي داسي نه نوک ووهي. څنګه چي د سړک (واټ) په ابله خوا ورسېدو نو دلته زما د بدن وینه وچه شوه دا رښتیا ؤ چي ما هغه دلته د پرېښولو دپاره راوستلی ؤ....... زما په دا وخت هغه حال ؤ کوم چي د غله وي چي پر موقع نیول شوی وي......... ما ته د هغه ورځي احساس وشو په کومه ورځ چي ما د خپل اول خاوند د سدری (واسکټ) جیبونه کتل هغه خاص پر موقع راغی. زۀ په خولو کي لمده خیشته شوم او له شرمه مي سر په ځمکه ننوتو.......... ډېر په خواری چي مي سر راپورته کړو نو ماشوم د زښي خرڅولو والا ته رسېدلی ؤ. زما کار دلته ختم شو......... زۀ په خپله ناپاکه کار کي بریالی شوې وم.......... ماشوم په خېرسره د سړک (واټ) دویمي غاړي ته رسېدلی ؤ او ما دا فکر وکړو چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما خو له اوله سره ماشوم نهٔ وُ........ اخري ځل چي مي کله ماشوم ته وکتل نو داسي لکه پردی ماشوم چي وي ما په دې وخت کي داسي محسوسول لکه یو تور خطرناک حبشي چي ماته ګوري...... زهٔ په دا وخت کي په وېره کي مبتلا شوم او په تېزی سره تر دوو کوڅو راتېره شوم. بیا مي فکر وکړو باید چي زهٔ د کوڅو تر شا په پټه پټه روانه شم...... ډېر په ازیت سره د یوې کوڅې تر سره رسېدلې وم چي یو موټر زما تر څنګ ودرېدو، زهٔ له وېري په کپ شوم او په خیال کي مي دا راغلو چي کېدای شي چي پر چوک باندي زهٔ یو پولیس په شک من نظر لیدلې یم او کله چي زهٔ له چوکه د دې کوڅو خوا ته راغلم نو دې پولیس په موټر کي زما څاری وکړو او اوس دا دی ما نیسي.

نه پوهېږم چي ولي مي شاته موټر ته وکتل څه خلګ له موټره راکوز شوي وو او موټروان ته یې خپله کرایه ورکوله........ په ما کي بېرته ساه راغله او یو خیال هم راغی........ زر د موټر خوا ته روانه شوم په موټر کي کښېنستم او په زوره مي دروازه رابنده کړه........ موټروان له ځان سره وښېدی او موټر یې روان کړو........ په دې وخت کي زما د ټکري پلو د موټر په دروازه کي راغلی وُ......... لاکن دومره وس نهٔ وُ راکي چي ما پلو راکښلی وای......... بښه د ډېر مزل وروسته چي زړه مي لږ په ځای شو نو مي په کراره د ټکري پلو د موټر له دروازې راوکښی........ په چوکۍ مي سر کښېښودی او په ارامه کښېنستم.

او د شپې تر اخره پوري ما د خاوند څخه د موټر کرایه نهٔ کړه وصوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رښتونی عاشق

میرزا جعفر ډېر زهین او قابل طالب علم ؤ........ هغه د درس اخستلو علاوه د درس پوهني هم زیات شوق درلود....... په دې یې په هر ځای کې به یې مېخونه ایستل او په اوږدو بحثونو به سر شو........ د هغه دا ارمان ؤ چې هغه یو لوی عالم فاضل جوړشي او بیا د دولت په یوه اهمه چوکۍ باندې کښېني.......... واقعتاً هم هغه تش د یوې لوړې چوکۍ د پاره دومره درس وئیلو......... ګنې که نن ورته د عام بابو یوه چوکۍ ملاوه شوې وای نو خدای خبر چې کله به یې زد کړه پرېښې وای........... لما ځخه به یې د فلسفې درس اخستی............ حالانکه د عمر په لحاظ هغه له ما ډېر کشر ؤ.... خو بیا هم موږ لکه دوه همزولي ملګري بې تکلف او خواږه ؤ...... د هغه د سوالو د ځوابو د پاره به ما ډېره وسیع مطالعه کوله....... او دا وسیع مطالعه زما د پاره هم ډېره مهمه وه.........په دې به زهٔ د دهٔ ډېر شکرګزار وم او د هغه په مرسته کولو کې ما هیڅ یوه بهانه هم نهٔ کوله.

له څو ورځو راهیسې هغه ډېر غمجن غمجن ښکاره کېدو او د عشق او عاشقۍ خبري به یې څېړلې........ په دې فکر چې داسې نه وي چې د ځوانۍ جوش دی په غلطه لار سم کړي. ما د دهٔ حوصله افزائي وکړه او یوه ورځ مې بلا تکلف ورته او وئیل چې! میرزا صاحب مهٔ شرمېږه څه چې دې راته یې اووایه؟ که د

(c) ketabton.com: The Digital Library



و ادهٔ مسئله ده نو زهٔ به پخپله په مرکه وګرځم او د وادهٔ مسئله به در حل کړم.

هغه ما ته وکتل او د یوې سړې اسوېلې سره یې راته اووئیل چې! کشکي داسې کېدای شو..........وروسته د خبرو څه دا څرګنده شوه چې دهٔ خو د فلان الدوله لور په حافیظیه کې لیدلې ده او زړهٔ یې پرې بائللی دی...... هغهٔ هم دی خوښه وي او د مینې عهد وپیمان یې هم په منځ کې شوي دي....... خو د وصال هیڅ لار نهٔ معلومېږي....... ولې چې فلان الدوله د ډېر دولت څښتن دی او هغه خپله یوه نازولې لور هیڅ کله هم و یوه وړې، لڅ طالب علم ته نهٔ شي ورکولی.

زهٔ پوهېدم چې میرزا ډېر ضدي او په خبره وچ ولاړ ځوان دی..... که هغه ته خپله معشوقه نهٔ شوه ملاوه نو په ژړا ژړا به ځان و مرګ ته وسپاري...... په دې وجه زهٔ ودې صورتحال ته سنجیده شوم.......... میرزا ماته وئیلې ؤ چې زما معشوقه له ما سره دومره مینه کوي که موږ ته د پټ ملاقات ځای را په ګوته شي نو هغه به له څه ډاره وماته د ملاقات د پاره راشي.......
کله چې ما دا واورېدل نو زما د وجود وېښتان له خوفه جګ جګ ودرېدل. او په دې فکر شوم چې د نفس شېطان یو نېک او عالم ځوان څومره په اسانۍ سره خطا باسي او بې حیائي ته یې تیار کړي.

زهٔ پټه خوله شوم.......... د میرزا رنګ ورځ په ورځ زیېړ اوښتو او کمزور تیا یې هم په وجود غالبه شوې وه......... د دهٔ په درس او بحث ومباحثې کې دلچسپي ختمه شوې وه او زموږ د خبرو دائره هم ددهٔ تر معشوقې پورې محدوده وه........... زما تر وسه چې څومره کېدای شو ما دی د دې کاره راګرځولو پوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوره کوشش اوکړو......... دی مي له هغو خطرو څه خبر کړو چي ودۀ ته ورپېښېږي دي............ خو زما په خبرو به يې نور هم د عشق په سمندر کي غوټې وهلې.

ميرزا چي دا وکتل چي زما هيڅوک مرسته او کومک نه کوي او نور مي هم له دې کاره راګرځوي نو بيا به له ما هم پټېدی.......... زۀ ډېر غمجن وم چي يو ښه دوست او شاګرد مي له لاسه وځي....... ما ته داسي را معلومېدو لکه چي ما خپله د يو قابل طالب علم د پاره د درس دروازي بندي کړې. او زۀ خپل ضمير هر وخت په دې خبره ملامتولم....... اخر ما هم زغم له لاسه ورکړی. زۀ را ولاړ شوم د ميرزا د بېرته راوستولو د پاره د داسي ګناه په کولو اماده شوم کومه چي په يوه حال کي هم د معافي لائقه نه وه. ما ميرزا ته حال ور ولېږلو چي هغه خپله معشوقه زما کورته راوستی شي.

ميرزا تر دوو ورځو پوري زما په کور کي مخ تورو ی...... لاکن زۀ خوشحاله وم چي ميرزا يو وار بيا په هغه جوش او جذبه درس ته توجه ورکوله او زۀ به تر نيموشپو پوري د دۀ د سوالو د ځوابو په لټولو بوخت وم.

دوه کاله دغسي تېر شول.......... ميرزا به هر وخت خپله معشوقه زما کورته راوستله او د څو ورځو د نفس د تسکين پوره کولو وروسته به يې بېرته بوتله.

يوه ورځ دا خبر راغی چي د فلان الدوله لور مړۀ شوه......... ميرزا ته چي کله دا معلومه شوه نو په بد حال شو.......... کله به هغه د يو ماشوم غوندي کوم چي د مور په غېږ کي سر کښېږدي او په ژړا سر شي او کله به د هغي زمری

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوندي د کومي چي ماشوم زمری بچی کوم (صیاد) ښکارزن پټ کړی وي د یو وحشیت او د درندګۍ انځور به یې مخې ته راغی........ په یوه جنوني کېفیت کي به مبتلا شو....... داسي عاشق به شاید چا لېدلی وي.

سهار ماښام به د فلان الدوله د لور و قبر ته ناست په ګېږیان به یې راړولي ؤ........ د میرزا د معشوقې و وروڼو ته حال ورسېدو.....یوه ورځ مي تر غوږ شو چي د میرزا د معشوقې وروڼه د میرزا په مرګ پسې دي........ زما په فکر کي یوه خبره هم نۀ راتله چي میرزا په دې خبره څنګه خبر کړم.... زۀ په دغه سوچ کي وم چي د کور دروازه وټکېده...... زۀ ور ولاړ شوم او دروازه مي خلاصه کړه......... یوه ښځه د باندي ولاړه وه او راته یې اووئیل! زۀ د میرزا معشوقه یم او دلته ستاسو کره د میرزا سره په څو څو واره راغلې یم.

زۀ هک پک لکه بت پاتې شوم......... زر مي د دې د ټکري پلو راټینګ کړو چي داسي نه چي ښاپېری وي او رانه ورکه شي........... ما تپوس ترېنه اوکړو چي تۀ خو مړۀ شوې وې؟

هغې په ځواب کي راته اووئیل چي په اصل کي زۀ د فلان الدوله لور نۀ یم بلکه زۀ د هغې مړې پېغلې د رضاعي مور (دایه) لور یم...... ما ځان میرزا ته په کسته په پرده کي کړی ؤ........ اوس زۀ غواړم چي هغه ته ربنتیا ربنتیا حال اووایم........ زۀ د میرزا دا حال نۀ شم لیدی......... تۀ د هغه روحاني پلار یې تۀ زما په دې هکله مرسته اوکړه......... ما هغه کورته د ننه راوسته او په کوټه کي مي کښېنوله او ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مي وئیل چي ! زهٔ تر څو نه یم راغلی تهٔ به نهٔ ځې، زهٔ ځم میرزا ګورم.

میرزا ماته د حافیظیه سره نزدې په لاس راغی......... ما هغه کورته راوستو او له هغه مي پوښتنه اوکړه چي! که چېري ستا معشوقه ژوندی وي نو څه رابانديي خورې؟

هغه ماته په عجیب انداز وکتل........... خو ما بیا خپله پوښتنه تر ېنه اوکړه چي! که چېري ستا معشوقه د فلان الدوله لور نهٔ وي او هغه ژوندی وي نو ستا په خیال څنګه به وي؟

د هغه سترګي رډي راوختلې......... په دې حال کي د دهٔ معشوقه هم د ابلي کوټې څخه دې کوټي ته راغله او په مسکا یې ورته اووئیل چي! میرزا جانه خفه نهٔ شې ما له تا سره ټوکي ( شرارت ) کړي وې........... زهٔ ژوندی یم. د میرزا د مخ بڼه بالکل غائبه شوه........... هغه بې سوده شو.........او پر مځکه ولوېدو......... چي کله په سود کي راغی نو یې خپلي معشوقې ته اووئیل چي ځه! زهٔ له تا سره مینه نهٔ کوم.

څو ورځي پس مي د میرزا څخه دا پوښتنه اوکړه که ستا هغه نهٔ وه خوښه نو دي داسي ولي کول؟ زهٔ ستا په دې حرکت نهٔ شوم پوه؟ دهٔ په ځواب کي راته اووئیل چي! زما دي ستا پر سر قسم وي زما عشق رښتونی ؤ....... که داسي وخت راغلی وای نو ما به دا خپل سر هم ترې قربان کړی وای خو دا رښتیا دي چي زما د فلان الدوله د لور سره رښتونی عشق ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مور

هوشنګ د ثلور کلو ؤ.......... د مور ناز به سهار دی د خوبه راپورته کولو او د پلار شفقت به دی ماخوستن په خواړه خوب اوده ولو...... کله چي به هغه د مکتب څخه کورته راغی نو مور به په مینه ښکلولو او پلار به د دهٔ ښکلي سرهٔ وېښتان په مینه مینه سمولو........ دهٔ چي به د هرڅیزخواهش کولو هغه به دهٔ ته سم دستي راوړل شو........ ولي چي دی د مور او پلار یوازني نازولی زوی ؤ.

هر ماشوم فطرتي د مور سره مینه لري....... په خاصه توګه بیا چي مور هم ډېره مهربانه او مینه ناکه وي.

هوشنګ تر نورو ماشومانو ډېر زیات نازولی او موریې تر نورو مېندو ډېره بااحساسه او مهربانه وه.......... په کومه ورځ چي د هوشنګ لاس مات شو نو د مور ساه یې تر حلقه راغله............ د پلار په سترګو یې تیارې خورې شوې.......... په ټول کور کي داسي ماحول جوړ شو لکه مړی چي شوی وي.......... هوشنګ په لوبو کولو کي لږ غوندي بې احتیاطي کړې وه لاکن په کور کي سم د ویر انځور ښکاره کېدای.......... څو میاشتې هوشنګ کرار پر کټ پروت ؤ.......... په کومه ورځ چي (شکسته بند) سکینډې والا د دهٔ د لاس پټی له مزغي څه خلاصه کړه نو د دهٔ لاس بالکل جوړ ؤ......... هیڅ درد یا نور تکلیف ورته نهٔ ؤ....... تر دې پېښې وروسته د دهٔ په زړهٔ کي دا احساس دومره زیات شو چي د دهٔ مور د دهٔ سره ډېره زیاته (بې کچه) مینه کوي. نو دهٔ ته هم په کار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي په لوبو کي د احتياط څه کار واخلي.......... داسي نه چي يو ځل بيا د دۀ مور له ډېري پرېشانۍ سره مخامخ شي.

کله چي به هغه د مکتب څخه راغی او د لوبو کولو پس چي به د هر څه نه فارغه شو نو به يې د خپل د درس يو کتاب را واخست او د مور په غېږه کي به يي سر کېښود او خپل سبق به يې لوستلو............ د دۀ ستر ګي چي به کله د مور په څهرې ولګېدې نو په زړۀ کي به يې يو داسي اطمينان راغی لکه چي د دۀ د مور او پلار پرته په دې نړۍ کي بل بنيادم نه وي...... په خاصه توګه به يي کله چي مور ته وکتل نو به يې زړۀ ډاډمن شو..... حالانکه د پلار شفقت څه کم نه ؤ.......... خو دۀ ته د مور مينه تر هرڅه مقدمه ښکاره کېده.

ولي چي د دۀ مور او پلار د دۀ د مکتب هر ضرورت ورپوره کړی ؤ. نو په دې وجه دی د مکتب په خپله ټولګه کي ډېر لائق ماشوم ؤ. او بله دا چي د دۀ په تربيه کي د دۀ مور او پلار د ډېر احتياط څخه کار اخستی نو په دې وجه دی په دې کم عمر يعني ماشوم توب کي ډېر نېک او باسعادت ماشوم ؤ.

هغه کوتره چي تل لوړ پرواز کوي چي هغه د ازادۍ او د ازادۍ د اهميت څخه ښه خبره وي.......... خو هغه د ظالم (صياد) ښکاري د ارادو څخه ناخبره وي.

هغه خوږ ګفتار بلبل کوم چي د خپل ګل جانان په ياد کي په خوږو سندرو کي له عالمه بې خبره وي.......... او هغه ته دا نۀ وي معلومه چي يو داسي طوفان راروان دی او د دۀ دا ښکلی ګل چي دی په مئين دی هغه به تيت و پرک کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم ماشوم چې د مور په غېږه کې یې د مینې شپې سبا کړې وي...... چا چې د مور د مینې د ډک ګفتار پرته یې بل هیڅ نه وي اورېدلي...... د خوشحالۍ او کامیابۍ پرته یې هیڅ نه وي لیدلي. هغه څهٔ خبر ؟ ولې چې د ژوند په تماشو کې څه عجیبه وېرونکي منظرې هم لېدل کېږي.

د هوشنګ مور ناروغه شوه........... ناروغي یې دومره زیاته شوه چې طبیبان هم ورته عاجزه شول.......... کوم مخ چې به د ګل ګلاب غوندې سرۀ وه، د زعفران په شان زېړه شوه......... هغه له نوره ډکې سترګې په کوم کې چې د هوشنګ د سترګو نورۀ هغه د یوې تتې ډیوې په څېر په پړکا وې.

د شپې هوشنګ د خپلې مور و څنګ ته ناست د مور د سر د وېښتانو سره یې ځان مشغول کړی ؤ......... کله به هغه د مور زېړ مخ ښکل کړو او کله به یې لاس په خپله سینه کېښود......... دا د دهٔ په خیال کې هم نهٔ چې دی به له خپلې نیازیني مور څخه د تل د پاره جلا کېږي، او ټول ژوند به یې د مور بغېره په هجر کې تېرېږي....... خو د دې باوجود دی نن ډېر غمجن ؤ.

مور ته څهٔ پته ده چې هغه ماشوم کوم چې د مور د مینې محتاج وي او هغه د دې پاکي سپېڅلي رشتې څخه جلا کول د خدای په کومو مصلحتونو کې دی........ مور ته څهٔ معلومه ده چې بنیادم د شباب په عروج کې له دې دنیا سترګې پټې کړي او بل سل کلن ژوند کوي...... داسې بې شمېره سوالونه شته چې مور یې د ځواب په لټون یو، او داسې سوالونه به نور هم خامخا مور ته په مخه پخپل فکر کې راځي........ خو لاکن د دې سوالونو ځوابونه مور ته نهٔ معلوم دي او نهٔ به کله را معلوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي.......... د خدای په مصلحتونو یو انسان نهٔ پوهېږي او نهٔ به پوه شي.

د مور سترګي پر هوشنګ وچي ولاړي وې.......... ناڅاپه لکه د تودو اوبو را وخوټېدې او د هوشنګ په غم کي وبهېدې......... اخري لفظ چي د دې له خولې څخه ادا شو هغه د.......... هوشنګ نوم ؤ.

هوشنګ د مور سوړ وجود ډېر وښوروی خو هغه څه پوهېدی چي د دهٔ مور اوس کله هم دهٔ ته غږ نه کوي.......... هغه نه پوهېدی چي د دهٔ مور د دهٔ د پوښتني ځواب ولي نه ورکوي.......... هغه صرف دا لیدل چي د هغه پلار ژاړي او په کور کي ماتم جوړ دی، او د دهٔ مور په خوا ږه خوب ویده ده.

کله چي خلګو اولیدل چي هوشنګ د مور د سینې نهٔ جلا کېدای او په ژړا یې د ټولو زړونه تر حلقه راوستلي ؤ نو یوې ښځي په زوره دی د مور د سینې جلا کړی او بلي کوټې ته یې بوتی.

خاوره ټول خپل ځان ته غواړي...... هغه دا نهٔ ګوري چي دا ځوان دی که زوړ، رنګ نسل، امیر غریب د هیچا پرواه نه لري. ټول خپل په وجود کي رانغاړي. د هوشنګ د مور اخري ارام ګاه هم په خاورو کي جوړه شوه.

هېرېدل هم د خدای یو عجیب شیز دی. که دا یوې خوا ته لعنت دی نو بلي خوا ته نعمت هم دی. که زمونږ د هېرولو عادت نه وای نو مونږ به هم د خپلو قریبانو سره په څنګ کي د خاورو په غېږ کي په خوا ږه خوب پراته وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هوشنګ فکر د بدلولو په هکله هر چا خپل تر وسه زیار وګالی. د هر چا چي څه په وس کېدو هغه یې ورسره کول. چا به کورته بوتی او ښه ډول ډول خوراکونه به یې ورته کښېښودل....... چا به ننداړتون (سینما) ته د ساتېري د پاره بوتی. خو د هوشنګ معصوم، حساس او مغموم زړه په دې څیزونو نهٔ خوشحاله کېدو. د فراموشۍ زار لا د دهٔ په زړهٔ کي خپل تریخوالی نهٔ ښکاره کړی چي دی دي د مور بېلتون هېر کړي...... دهٔ هر وخت د مور په بېلتون او غم کي معصومي اوښکي تویولې.

هغهٔ د دنیا د اسرار په لټون کي بوخت فلسفي چي د دې دنیا معاملات ورته د ماشومانو لوبه ښکاري د مور په مرګ به یې خامخا له سترګو اوښکي درومي. هغهٔ ماشوم چي د ژوند پنځه سپرلي یې هم لا نهٔ لیدلي د داسي حادثې لیدلو پس څنګه به په صبر شپې سبا کوي.

د هوشنګ پلار د مال و دولت څښتن ؤ. د هېرېدلو زاریې په ختهٔ کي شامل ؤ....... هغه په یو کال کي خپله ګرانه مېرمنه هېره کړه، او یوه بله ښځه یې کورته راوستله......... ترکومه چي دا دویمه ښځه نه وه راغلې هوشنګ په مور پسې ډېر غمجن ؤ. نو چي کله دهٔ دا ولیدل چي د دهٔ د مور په ځای بله ښځه راغله او د دهٔ د مور ځای یې ونیوو خو د دهٔ پلار هم هغه رنګه د دهٔ سره مینه کوي نو زړهٔ یې څه ډاډمن شو.

د دهٔ دا خیال ؤ چي دا ښځه به خاص زما د مور غوندي وي. په دې به دهٔ دې ښځي ته (مورکۍ) وئیلې، او د هغه وخت په انتظار شو چي دا ښځه به هم ماته د مور غوندي بې کچه مینه راکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا یو داسي نفسیاتي حقیقت دی چي سکه مور د خپل اولاد روښانه سباوون او خوشحالي ګوري........ خو مېره د بنزیانو سباوون تاریک ګوري......... د هوشنګ چي کومه توقع د دې دویمي مور څخه وه، افسوس هغه پوره نه شوه....... دهٔ چي به څو مره دي مېرې ته ځان ورنږدې کوو هغې به هومره د ځانه لري شړلو. دهٔ د دې ښځي د میني د حاصلولو هر ممکن زیار وکښی. خو هر وار به ناکامه شو......... په یوه معصوم ماشوم کي د یوه پوخ انسان د فطرت د بدلولو صلاحیت چېري وي؟

یوازې د وجود ناروغي انسان نهٔ کمزوره کوي بلکه زهني ناروغي هم د انسان په صحت ډېر زیات اثر اچوي......... په دې سوب د هوشنګ زهني رنځ و ملال دی د ناروغۍ سره مخامخ کړی.

اوس خو هوشنګ د اول غوندي د لوبو کولو او خوش مزاجۍ نه لري شوی ؤ......... په کور کي یې زړهٔ تنګېدو او په مکتب کي خو به سبقونه ورباندي بوج شول......... په دې وجه د کور او مکتب څه لري په یو باغ کي به پټ ناست ؤ.

نر د ښځي څخه زیاته بې وفا وختی....... د هوشنګ د پلار زیاتره وخت به د خپلي ښځي سره تېرېدو......... هغه د هوشنګ په زدکړو (تعلیم) او تربیه توجه ورکول پرېښودو.......... دا ؤ چي د هوشنګ و مېرې ته موقع په لاس ورغله او هغې به د هوشنګ مانه (شکایت) و خاوند ته کولو. یوه ورځ یې تر دا پوري اوئیل چي دا څنګه ماشوم دی چي تر اوسه یې مور نهٔ ده هېره کړې............ بس نوره زهٔ له دهٔ بېزاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



شــوم......... زهٔ د دهٔ پــه زګېــروي د دې کــور خوشــحالی نــه شــم برباده ولی.

پـلار بایـد چي دی په مینه پوه کړی وای خو سر لـه هغـه نـه یـې پـه دهٔ مـخ راواړلـو او خښـم یـې ورتـه اوکـړو......... د ماشـوم زړهٔ معصـوم دی څـه د ډېـري جـوړ خـو نـهٔ دی........ د پـلار سـختي دی دې تـه مجبـوره کـړی چـي کـومي خبـري دهٔ پـه زړهٔ کـي سـاتلي وې هغــه یــې لــه خــولې څخــه راویســتلې او ړډ بــډ یــې پــلار تــه مـخ راواړوی او ورتـه داسي ګویـا شـو چـي! کلـه چـي زمـا مـور ژونـدی وه نـو تـهٔ کله هم لـه مـا څخـه خفـه شوی نـه وې. او اوس چـي زمـا مـور مړهٔ ده نو تـهٔ هر وخت لـه مـا خفـه یـې......... اوس خـو تـا لـه مـا سـره مینــه کــول هــم پرېښــې ده......... ماتــه د خــوراک د پــاره د وچــي ډوډی تــوکړې رارســېږي........ زمــا جــامې څیــري شــوي دي، او تــهٔ لـږ هـم دا فکـر نـه کـوې؟ زهٔ چـي څـومره د نـوي مـور سـره مینـه کـوم دا هغــومره مــا لــري شــړي........ زهٔ چــي کلــه د هغــې و لــور ننوکی تــه ورنــزدې شـم هغــه مــا لــه دې کــاره را وګرځـوي.......... بیــا هــم تــهٔ ماتــه بــد رد وایــې........ لــه ډېــره غمــه د هوشــنګ پــه سـترګو کــي اوښــکي ښــکاره شــوې........ لــه ډېــره غمــه یــې پــه ســترګو کــي د اوښـکو پـه ځـای ويني راغلـې....... هغـه شپه دهٔ ډېـره نـاکراره تېـره کــړه........ داســي لګــه چــي پــه ســکروټو یــې تېــره کــړې وي..... سهار ته یې ډېره سخته تېره وه.

یــوه میاشــت پــر بســتره پــروت هوشــنګ د نــاروغی سـره د جنـګ کولـو طاقـت بیلـو......... او یـوه ورځ چـي د سـهار سـترګه غوړېدلـه هـري خـوا تـه ګلونـو د شـبنم پـه اوبـو غسـل کـړی ؤ، دلتـه پـر بسـتره پــروت هوشــنګ د تــل د پــاره خپلــي نیمــي ســترګي پټــي کــړې.......

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه معصومه غوټۍ چي اوس به ګل کېده او د سپرلي په رنګينو بښه ښکارېده د تل د پاره و شو کول شوه.

ماسپښين هو شنګ د مور په ځنګ کي خاورو ته وسپارل شو چېري چي هغه د تل د پاره د مور په غېږه کي په خوا ږه خوب اوده شو.

کېدای شي چي دا د دهٔ تر ټولو لوی ارمان ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نجات دروازه

لـه شـپږو سـاعتو څخـه مریمـه دریـه دره ګرځېدلـه! رنـګ یـې داسي زیـړ ؤ لکـه څـوک چـي و زکنـدن تـه نـزدې وي...... مریمـي هـم خپـل لـه لاسـه ورکـړی د څهـرې رنـګ لیـري خپـل منـزل تـه روانـه وه....... د افـق پـه هـا خـوا د اسـمان پـه وسـعتو کـي لوېـدونکی لمـر د وسـپني غونـدي سـور لکـه اوس سـم دسـتي چـي د یـوې بټـۍ څـه راوتلـې وي خپـل پـه چاپېریـال کـي یـې نـارنجي رنـګ پاشـی...... د مریمي رنګ هم له ډېره کمزورۍ څه تک زیړ شوی ؤ.

لمـر ډېـر کـرار کـرار د افـق پـه پـرده کـي ځـان پنـاه کولـو....... لـه ډېـرو کلـو څخـه د مریمـي د مـخ سـور والـی د وینـي د کمـۍ لـه سـوبه پـه زیـړ رنـګ بـدل شـوی ؤ........ د تهـران لمـر هـم د مریمـي غونـدي د خپلي څهرې بڼه بدله کړې وه.

لـه شـپږو سـاعتو څخـه مریمـه دریـه دره ګرځېدلـه! د دې د دوو کـالو ماشـوم د دې پـه غېـږ کـي ویـده ؤ....... خـوب او د مـور غېـږه د ماشـومانو د پـاره د یـوه جنـت څخـه کـم نـه وي........ پـه کـوم کـي چـي د دوی معصـومي ارواحـي لـه دنیـا و مافیـا څخـه بې غمـه پـه ډېـر اطمینـان سـره ارام کـوي........ دا ماشـوم کـه څـه هـم قېـد ؤ خـو ازاد ؤ.

اې د اسـمانو او د مځکـي پـاکي فرشـتو! تاسـو معصـومه ماشـومان د دنیـا د بـې رحمـه لاسـونو څخـه سـاتی او پـه خپلـه پاکـه غېـږه کـي ځـای ورکـوی.... مریمـه بـه هـم زر خپـل ماشـوم تاسـو تـه درسپاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـه شـپږو سـاعتو څخـه مریمـه در پـه دره ګرځېدلـه! لاکـن یـوه دروازه هـم د دې د پـاره خلاصـه نـۀ شـوه.......... د یـوه رحـم دل انسـان هـم لـه دې دروازو لـه شـا غـږ نـۀ راغـی........... د یـوه سـخي هـم لـه دې دروازو څخـه د خېـر لاس نـۀ راووتـی........ د هیچـا سـره دا احسـاس نـه ؤ چـي دا میـراث مـړې لـه درو ورځـو راهیسـې وږې ده او کوشـنی ماشـوم یـې هـم د لـوږې سره پـه جنـګ دی.

د مـور زړۀ بـه تـر کومـه د وینـو او ښـکي تویـوي؟ هغـه وړې وړې تـوري سـترګي کـومي چـي د دې د زېـړ رنـګ ښائسـت وې تـر کومه به ژړېدلې؟

لـه شـپږو سـاعتو څخـه مریمـه در پـه دره ګرځېدلـه! د خلګـو دې رویـې هغـه دې تـه مجبـوره کـړه چـي اوس بـه هغـه چېـري هـم د بـل در ونـۀ ټکـوي........ د هیچـا د کـور مخـي تـه بـه نـۀ ودرېـږي........ اوس بـه هغـه د هیچـا د سـر درد نـۀ جـوړېږي........ خپـل د بـې وسـۍ په غږ به د هیچا ارام نۀ حراموي.

هغـه د شـمیران (ښـار) د دروازې سـره پـه یـوه تـړه بانـدي کښېنسـته........ واټ (سـړک) سنسـان ؤ........ ولـي چـي یـو څـوک هـم د تهـران پـه وچ ځـان خـوړنکي یـخ کـي لـه کـوره نـه راوتـی......... بـس یـو څـو بـې کـاره مـزدوران د ښـار د دروازې سره د واټ و غاړې ته ناست د لمر د لوېدو خوني منظره یې کتله.

اوس چي ورځ ختمه او ماښام پیل شو، نو دوی هم مخامخ چینکي هوټل ته ننوتو........ د هوټل پرده هم رایله شوه........ د امید اخري تړون هم مات شوی او د ژوند اخري دریچه هم بنده شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژمــي ثخلوېښــت ورځــي تېــري شــوي دي........... پــه دې ثخلوېښت ورځو کې د يـوې دقيقـې د پـاره هـم مريمـه و انګېټهـې تـه نـهٔ وه کښېنسـتلې......... د دې پـه وجـود کـي چـي د ځـوانۍ کـوم حـرارت ؤ دا پـه هغـه بانـدي ژوندۍ وه....... اوس هغـه حـرارت هـم په سړېدو ؤ.......... د ژوند اخري بڅرکې هم په مړېدو وه.

کـه هغـه نـر وای نـو هـيڅ کلـه بـه يـې داسـي حـال نـه وای....... هغـه بـه پـه يـوه هوټـل يا د يـو مـال او دولـت ښتن ځـوان پـه حجـره کـي د يخـه څخــه د ځــان ژغورولــو بندوبســت کــړی وای......... خــو هغـه ښـځه وه او هغـه هـم شـل کلنـه ځوانـه ښـځه....... د چـا پـه غېـږ کــي چــي د دوو کلــو ماشــوم ؤ......... کــوم چــي د يــوې لهځــې د پـاره هـم د مـوره نـهٔ جلا کېدو......... هغـه چېـري تللـې شـوه؟ پرتـه لـه هغه منزله د کوم په لور چي دا اوس روانه شوې وه.

د ژمــي ثخلوېښــت شــپې تېــري شــوي دي........... کېــدای شي چي ثخلوېښت ورځـي نـوري هـم تېـري شـي......... کېـدای شـي چـي سـبا بيـا دا شـپېږ سـاعته درپـه دره وګرځـي....... کېـدای شـي چــي سـبا بيـا دا دلتــه د شـميران (ښـار) د دروازې سـره پـه لـوږه او تنده ناسته د مرګ سره په جنګ وي.

خـو دا نـا ممکنـه ده چـي د الله يـو نېـک بنـده راشـي او دا خپـل کورته بوزي.......... د اور څنګ ته د ژوند څنګ ته.

اوس خبـره تـردې تېـره شـوه......... تـر کومـه بـه هغـه داسـي محرومه ژوند تېروي؟ تر کومه به درپه دره ګرځي؟

پـه دغـه سـوچ کـي وه چـي پـر عـين دا وخـت چـي د تهـران رنـګ هـم د لمــر غونــدي نــارنجي شــوی ؤ او د ايــران د غــرو شــاته پــټ شــوی ؤ مريمـي اخـري سـلګۍ ووهلـه......... دې خپـل د ژونـد اخـري سـاه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپـل د ژونـد یاد ګـار دوه کلـن هغـه معصـوم ماشـوم کـوم چـې اوس اوس ویده شوی ؤ د ژمي و یخو ځیلو ته یې وسپاری.

لـه شـپږو سـاعتو څخـه مریمـه درپـه دره ګرځېدلـه! اخـر یـوه دروازه خـو ورتـه خلاصـه شـوه........ هغـه هـم د جنـت دروازه.......... زهٔ پـه یقـین نـه شـم وئیلـی خـو پـه دې ضـرور خبـریـم چې دا دروازه د نجات دروازه وه.

لـه شـپږو سـاعتو څخـه مریمـه درپـه دره ګرځېدلـه! اخـر پـه دې د حیات ابدي (د تل ژوند) دروازه خلاصه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زاړه چمپلان وچه ډوډۍ

پرون شپه زۀ ترډېره ویده وم.......... ما پښین ته نږدې زما سترګې خلاصې شوې.......... د لمر وړانګې زما د کوټې د دربچو د شیشو څخه خپل زېړ رنګ پاشی.......... د دروازې د پردې څخه د لمر رڼا داسې ښکارېده لکه د یوې ماه جبینې مخ چې په نقاب کې ښکاري.

د تهران د منې په موسم کې نری باد، تونـد لمر او تـک شین اسمانه څخه پرته بل هیڅ یو داسې شی نۀ ؤ چې د سهار ښائست یې پیکه کړی وای..... کله چې د سهار باد د دربچې څخه زما پر مخ ولګېدی نو د خوب ټوله سستي یې را څخه لري کړه، او زۀ د هري ورځنې کار د پاره یو ځل بیا چمتو شوم...... هم په هغه وخت لاندې په کوڅه کې یو مانوسه نارینه غږ زما تر غوږو شو

زاړۀ چمپلان وچه ډوډۍ اخلو..........

څلور میاشتې مخ کې موږ د شاه عبد العظیم په باغ کې ناست وو....... زموږ یو ډېر محترم ملګري ته عجیبه غوندې خیال راغی، هغه وئیل چې که چېري موږ اته واړه ملګري په یوه محفل کې راغونډ شو نو ؟ دې خیال ته زۀ په دې عجیبه وایم که زموږ رنګه دوه ملګري هم سره کښېني نو به سم د لاسه جنګ پېل شي.

دا داسې چې دوه لیکوالان یو ځای نۀ شي کښېنستی......... د هر یوه خپله عقیده وي.......... خېر هغه ورځ خو په خېر تېره شوه ولې چې په موږ کې درې غېر کسان ناست وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغو کې یو نوموړی شاعر عتیق ؤ. دویم شهناز مطرب (سازنده) ؤ او دریم سیماګر انځورګر ؤ، چې په برش به یې په مړو کې هم ساه اچوله. ظاهره خبره ده چې چېری اتهٔ فنکاران چې په هغو کې څلور لیکوالان او شاعران وي په هغه مجموعه کې به څهٔ څهٔ خبري نهٔ کېږي.

د ډوډۍ وروسته خدائ خبر چې څهٔ خبره وشوه چې زما او زما د افسانه نګار ملګري دوست علي نامق تر منځ یو بحث وځېږل شو.

د نامق عقیده دا وه چې پر انسان چې څه تېرېږي هغه د خالق او فطرت له سوبه کېږي.

زما عقیده دا وه چې اخلاق او د ژوند اساس پر تربیه باندي اړه لري........ موږ دواړو ببخي ډېري خبري وکړې. مسلسل نیم ساعت موږ خپل او د نورو ملګرو مازغه خوړلو، خو هیڅا هم پر ځان بده نه ولګوله. ولي دوی په دې پوهېدل چې دوی هم دغسي کوي.

نامق هر قسمه دلائل او وئیل خو زهٔ خپل په خبره وچ ولاړ ټکي په ټکي مي د دهٔ د دلائلو ځواب وئیلو، اخر موږ په ډېرو خبرو کولو ستړي شو او زموږ د بحث هیڅ فیصله نه وشوه........ موږ دواړو تر منځ دا شرط کښېښودی که په موږ کي هر یوه خپله خبره سپینه کړه نو دا بل به و ټولو ملګرو ته یوه پر تکلفه مړۍ (دعوت) کوي.......... د خوند خبره خو دا وه چي په موږ دواړو کي هر یو ته دا یقین ؤ چي شرط به هغه ګټي.......... ټول لیکولان دغسي وي........ هغه ته خپله رایه بالکل سمه ښکاري او د بل رایه ورته کمزوره ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم په دغه ورځ ما ځیګر موږ په بس اډه کې ناست وو.......... ګېرچاپېره د خلګو رش وو.......... ټول خلګو موږ ته داسي کتل لکه چي دا فنکاران یا اديبان د بلي دنيا انسانان وي.......... هو هغو خلګو ته دا حق ؤ چي هغوی موږ ته دغسي اوګوري.

موږ په خپله ګپه لګیا ؤ.......... ما وئیل چي د فردوسي غوندي طبعي او فصيح اشعار بل هیچا هم نه دي وئیلي.......... خرم، هومر ته ترجيح ورکوله.......... د عتيق صاحب بيا دا رايه وه چي که چېري موږ د پشکن د شعرو مطالعه اوکړو نو دا به ثرګنده شي چي د هغه کلام بهتر دی.......... رامس بيا د وکټرهيوګو د اسلوب ثخه متاثر ؤ.......... د نامق بيا دا خيال ؤ چي په دې ټولو استادانو کي يو هم د امرا، والقېس پوري نهٔ شي رسېدی.......... شهناز بيا خپله سارنده راخستې وه او وئیل يې چي د بهېتوون غوندي سندرغاړي په خپل غږ کي د شاعرانه افکارو ترجماني کړې ده.......... سيماګر انځورګر بيا د خپلي دنيا د تخيل په عقيده کي وئيل چي د انساني احساساتو او جزباتو ترجماني کروز په خپل لاس جوړ شوو فنپارو کي ثرګنده کړي دي. هغه د خپل فن له کبله و کمال ته رسېدلی دی.

دغه خبري روانې وې چي زما سترګي په يو خېر غوښتونکي (فقير) باندي ولګېدې.......... چي ثيري جامې په غاړه د يو کور د دروازې په پايو (سېړۍ) ناست ؤ.......... هم په هغه وخت زما په خيال کي يوه داسي خبره راغله چي ما فردوسي، هومر، پشکن، وکټرهيوګو، امرا، والقېس،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهېتـوون او کـروز مـي د خپلـو ملګـرو څخـه را خـلاص کـړو.......
ما پر ملګرو غږ کړو چي محترمو زۀ خپل کار پېلوم.
کوم کار؟
ولـي هغـه شـرط؟ څنګـه نـامق صـاحب تـۀ فقـر تـه د دنيـا ذليلـه پيشه وايي او دا د انسان لويه بدبختي نه بولې؟

زما له بخته په دې موقع نامق انکار نه او کړو.
ماورتـه اووئيـل کـه خبـره داوي نـو زۀ هغـه مخـامخ ولاړ فقيـر دلتـه راغـواړم او سـتا مـخ تـه پو ښتنه ځينـي کـوم.......... تـۀ يـې ګـوره هغـه بـه دا ذليلـه پيشـه پرېـږدي او بيابـه د نـۀ کولـو قـول هـم راسره کوي.
نـامق پـه زوره پـه خنـداکي داسـي راتـه وکتـل لکـه د هغـه پـه خيال چي ما شرط وبايلو.
زمـا پـر خپـل ځـان دومـري بـاورۀ ځکـه مـا د هغـه خنـدا تـه تو جـه نـۀ کـړه ور او ورتـه اومـي وئيـل کـه مـا دا ثابتـه نـۀ کـړه نـو زمـا ناکـامي د نـامق د کاميـابۍ ثبـوت دی........ هغـه بـه د فقير څخـه هـيڅ قسـم پوښتنه نه کوي.
مـا او نـامق هغـه فقيـر تـه ورغلـو او هغـه مـي د ځـان سـره دلتـه راوسـتو........ما د هغـه سره تقريبـاً شـل يـا پنځـه ويښـت دقيقـې خبـري وکـړې.......... زمـا خبـرو او منطـق هغـه قائـل کـړو........... مـا هغـه تـه څـه اووئيـل دا ډېـر اوږد بحـث دی. زۀ ستاسـو دښـمن نـۀ يـم چـي ستاسـو مازغـه اوخـورم......... تاسـو يقـين وکـړی چـي مـا هغـه فقيـر څنګـه لـه دې کـاره راوګرځـوی.......... هغـه پـه خپلـه اقـرار وکـړو چـي دا خـو ډېـره ذليلـه پيشـه ده........... ډېـره سـتړې او بـې شـرمه دنـده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده..........لـه سـهاره تـر ماښـامه د هـريـوه مـخ تـه لاس غـزول د چـا پـه وس دي.........كـه ماتـه اوس اوس دوه تومنـه ( د ايـران روپـۍ ) پـه لاس راشـي نـو زه بـه يـوه عزتـداره پيشـه پيـل كـړم..........زه بـه د كبـاړ كار پيل كړم.

مـوږ هغـه تـه دوه تومنـه وركـړې......... هغـه سـم د لاسـه بـازار تـه ولاړی او يـو غټـه ټـوكرۍ يـې واخسـته......... څـه قـران ( د ايـران پيسـې ) يـې د مـخ پـه جېـب كـي واچـولې او د ښـار پـه كوڅـو كـي پـه دې نارو سر شو !

زاړه چمپلان وچه ډوډۍ اخلو...............

محمـد علي د دې كبـاړ والا نـوم دی........ هغـه زاړه چمـپلان وچـه ډوډۍ او نـور داسـي د كبـاړ څيزونـه اخلـي او خرڅـوي يـې......... هـره ورځ....... دا د ده كـار دی...... دا سلسـله نـه ختمېـدونكي سلسـله ده.......... هغـه هـره ورځ زمـا د كـور لانـدي واټ ( سـړک ) تـه راځـي. پـه اونـۍ ( هفتـه ) كـي يـو وار زمـا د سـلام د پـاره كورتـه هـم راشـي.......... د ټـولي اونـۍ روداد راتـه بيـان كـړي......... او پـه كومـه ورځ چـي زه تـر ډېـره ويـده يـم نـو د ده دا خوږ غږ ماله خوبه ويښ كړي.

زاړه چمپلان وچه ډوډۍ اخلو..............

اې زمـا ځـوان افسـانه نګـار ملګـرې علـي نـامق صـاحب......... هغـه سـتا پرتكلفـه مـړۍ زمـا نـه هېرېږي كومـه چـي لـه ننـه څخـه څلـور مياشـتي مـخ كـي وه.......... خـو تـه زمـا پـه دې خوشـحالۍ نـه پـوهېږې كومـه خوشـحالي چـي محمـد علي د كبـاړ كار پيل كړو او د خېر غوښتوني څخه يې په خلاصېدو ماته راكړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لقب

تهران یو لوی ښار دی............ ښکاره ده چې د لندن او پیرس غوندې لوی ښار نه دی........... خو ډېر نوموړي خلک په دې ښار کې اوسېږي. چې ته ځني ناخبریې.......... خو ستا بې خبري د هغه په اهمیت کې څه کمی نه شي راوستی.......... تر ټولو ښه دلیل دا دی چې اقا عاقل الدوله ډېر نوموړی شخصیت دی. او ته دی نه پېژنې............ د دې وجه دا ده چې تهران یو ډېر لوی ښار دی.

تا خو څه د دې زمه واري نه ده اخستې چې د تهران ټول مشاهیر وپېژنې........ که ته اقا عاقل الدوله نه پېژنې نو په دې کې د خفګان هیڅ خبره نه ده....... په نړۍ کې ډېر نوموړي خلک شته چې ته یې نه پېژنې، او که په دې کې ته اقا عاقل الدوله هم نه پېژنې نو دا ستا د شان خلاف هم نه ده.......... بلکه تا ځان پخپله د ده د لیدلو او پېژندلو څخه محرومه ساتلی دی......... خو زه د دې نعمت څخه بې برخې نه یم.......... زه خوش قسمته یم او تا هم په دې خبرول خپل اعزاز ګڼم.

د ناصرالدین شاه د باچهي په اخري وخت کې یو سړی حاجي علي احمد عطار هم ؤ......... کوم چې د خپل دور په مشاهیرو کې شمېرل کېدای...... په هغه زمانه کې ډپلومېسي (سفارتکاري) صرف د میرزا ملکم خان او د علي احمد عطار په برخه کې راغلې وه........... هغوی دا حق درلود چې په غټو خلکو کې شمار شي........... که چېري دوی نن وای نو په زرګونو سیاست مدارانو کې به د څراغ په څېر وای......... د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی و مخ ته بـه د نورو اهمیت نهٔ وای......... خو په هغه وخت کې دی په شهرت کې یکې یوازې ؤ نو د شهرت ځلېدونکی تاج د حاجي علي احمد عطار پر سر کښېښودل شوی ؤ......... د دهٔ هغه کنډی سرهٔ ډېره د خلګو د توجه مرکز وه.

د حاجي علي احمد عطار سره په ژوند کې درې ځیزونه وو.......... یو عظیم شهرت........... دویم دکان عطاري ( دعطرو دکان )......... او دریم د دهٔ چالاکه او باهوشه زویي کوم چې په هغه ورځو کې په عبدالله ګنجا ( عبدالله پک ) مشهوور ؤ............. خو په سوکه سوکه پر مختګ سره په اقا عاقل الدوله مشهوره شو.

دا خبره رښتیا ده چې پلار مشهور وي نو زویي به هم خامخا شهرت موندي. په دې وجه حاجي علي احمد عطار که کلیات ملکیم او مقالات حبل المتین په یاد زدکړي وو خو د ژوند لویه ارزو یې د زویي تربیه وه.......... که تهٔ وای نو په دې به مایوسه شوی وای او په زړهٔ کې به دي وئیلي وای چې دا نا ممکنه ده چې عبدالله پک دي اقا عاقل الدوله شي......... خو دهٔ دا کار تر سره کړی........ دی مشهور شو. او تر دا انده چې ما او تا یې نن د شهرت تذکره کوو.

د دا حاجي علي احمد عطار کنډی ډېره کټ مټ د اوزې سره مشابهه وه......... په دې وجه الله پاک عقل هم د دې حېوان په شان ورکړی ؤ........ د دې عقلمندی کرشمه وه چې دهٔ د زویي د پاره د شهرت لارډېر ژر وموندله......... عبدالله پک یې په مدرسه کې داخل کړو......... دا دهٔ د شهرت اوله ورځ وه......... په هغه وختو کې په مدرسو کې به د هوشیاری قابلیت او شهرت طلبی تربیه ورکول کېده.......... په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوب عبدالله پک په مدرسه کي د اولي ورځي څه د هوشیارۍ او چالاکۍ و کمال ته ورسېدو.

د مدرسې مهتمم یا ناظم په هغه خوش قسمته خلګو کي ؤ څوک چي د کیمیا په علم کي ماهر ؤ........... دۀ به د فطرت بشرٰی (د سونې په څیر زېړ کاڼی، تانبا) د مسو څه سونا جوړوله.......... چنانچه هغه د حاجي علي احمد عطار څخه عبدالله پک واخست او د څو کلو پس يې يو خراف سخن ساز(شاعر)، باهوښ د کار او تربیه شوی ځوان ورکړ.......... هغه کامل استاد و ځوانانو ته به يې د سفارتکارۍ او زمانه سازۍ درس ورکولو.......... او دې څیز د ژوند هره لار خلاصوله........... د ډېرو ځوانانو د پاره دا لار خلاصه شوې وه په هغو کي یو عبدالله پک هم ؤ.

اخر مدرسې خپل سعادت ښکاره کړی........ د دې لارې اول منزل د ځلورو سوو کسانو د مرکزي جومات (مسجد) تحریک ؤ........ او دویمه مرحله د بهارستان او د جومات د سپه سالار حمله وه.......... پر دې لاره تلل دی و هغۀ سعادت ته ورسوی کوم چي د دۀ د پلار ارمان ؤ........... حاجي علي احمد عطار په (۱۳۲۴)هـ کي په یوه خاص موقع په حق ورسېدی.

د دۀ په ګلستان کي و اول ګل ته لاس ورواچول شو........ تۀ او ګوره څنګه ښائسته ګل ؤ........... یعني په دغه کال د جمادي الاخر په میاشت کي د دۀ پر لمن د ویني یو څاڅکی ولګېدی......... اوس دا نۀ وه معلومه چي دا د کوم بدبخت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وینــي څــاڅکی دی.......... د بهارســتان و مــخ تــه ډېــر بــې ګنــاه خلګ د توپک تر ګولیو ایستل شوي ؤ.

عبـد الله پـک چې پـه دا ورځ عبـد الله خـان ؤ او پـه تهـران کـې پټ ؤ، کلـه چې مجاهدینو تهـران فتح کـړو نـو عبـد الله خـان هـم د اوبـو لـه ښــکمه راووت، او هغــه ســور ګــل یـې د حکومــت و واکــدارانو تــه ښــکاره کـړو............ د دې وطـن وګـړي ډېـر قـدرمن دي او فـوراً یـې د ازادۍ د شـهیدانو نومونـه پـه ډېـر افتخـار سـره پـه دوتـرو پـه کاغذو کې ثبت کړو.

د عبـد الله خـان نـوم یـې هـم د دولـت د نوکرانـو پـه سـرلیک کـې اولیکلـو....... کلـه چې د وزارت قـانون چـوکۍ تشـکیل شـوه نـو یـو سـور پـوښ چپړاسي یـوه لفافـه پـه لاس کـې چې پـر هغـه بانـدې د وزارت داخلـه نخښـه جـوړه وه د مرحـوم حـاجي علـي احمـد عطـار پـه محله کې د اقا عبد الله خان مجاهد پته معلومو له.

خـدای خبـر اقــا عبـد الله خـان څنګـه پـه لاس ورغــی........... یــوه شــانداره چــوکۍ کومــه چــې د چــارمغز د لرګیــو څــه جــوړه پــه وزارت خـانې کـې د دهٔ پـه انتظـار وه او د معـاون د پـاره یـې دهٔ تـه دا چـوکۍ ورسـپارلې وه.......... داسـي هغـه سـور ګـل پـه یـوه تـرو تازه میوه کې تبدیل شو.

د وزارت خـانې و مېـز تـه مخـامخ پـه چـوکۍ ناسـت اقـا عبـد الله خــان پــه دې ســوچ کــې شــو چــې د انســان د ژونــد هــم دوې برخــې وي........... یــوه هغــه زمانــه کومــه چــې د کامیــابۍ پــه لارســهي عمــل وي او دویمــه هغــه زمانــه پــه کــومي کــې چــې پــه زحمــت او مجاهــدې ســره فائــده لاس تــه راوړل کېــږي........... پــه اولــه مرحلــه کـــې مـــې د فســـاد او بغـــاوت مراحـــل تېـــول تـــر ســـره کــړو.......... اوس نــو موقــع پــه لاس راغلــې ده چــې لــه دې څخــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګټه تر لاس کړم او خپل سباوون محفوظ کړم........ اوس هغه وطن، ازادي، قرباني، فرار، زحمت او مشقت ټول و خدای ته وسپاره او دا څو ورځې په راحت کي تېري کړه.

ته خبر یې چي د کوم انسان ژوند په ارام او راحت کي تېر شي نو ډېر لوی غنیمت دی.......... بیا هغه وخت نه را ګرځي او تاریخ د ده ورځي هېري کړي. ځکه نو ما ته هم اجازت را کړه چي زه هم د نورو مؤرخینو په شان اقاعبدالله خان پر خپل حال پرېږدم هغه دي د خپلي نوي عهدې څخه ګټه تر لاسه کړي لاکن یوه نکته شته چي هغه زه نه شم پټولی........... هغه دا چي د هري زمانې یو بدلون وي........... انسان چي تر کومه وخته پسمانده وي نو پسمانده وي. او کوم وخت چي دا انسان د لویي خوا ته راشي نو د ده هر څیز او فعل ډېر لوی ښکاري.......... په دې وجه د انسان خپل ذاتي نوم تر هغه وخته ډېر ښه وي تر کومه چي د ده کاروان وي.......... په ایران کي چي کله یو انسان لوی شي نو بیا د ده ذاتي نوم د پاره یو قالب جوړ کړل شي چي په کوم کي د ده بزرګي راشي.......... په دې قالب کي تر لقب ښه څیز نه شي کېدای.

یو سړی چي صرف د وزارت خانې معاون وي هغه تش په نامه قناعت نه کوي. لقب د هغه ضروت وي او هغه هم داسي لقب چي د اسم با مسمیٰ نه وي. داسي لقب چي مصداق و لري. داسي خو هم نه شي کېدای چي یو بزدل سړي ته موږ د بهادر الدوله لقب ورکړو.......... که موږ ورته او ګورو نو د اقا عبدالله خان د پاره د عاقل الدوله لقب پرته بل لقب نه ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـا ولیـدل چـي حـاجي علـي احمـد عطـار څـومره عقلمنـد سـړی ؤ....... هغـه پـه څنګـه هوشـیاري سـره عبـد الله پـک پـه څـو کلونـو کـي د ننـه د ننـه اقـا عاقـل الدولـه کـړو.......... وزیـر د عبـد الله خـان د پـاره د اقاعاقـل الدولـه د لقـب سـفارش دربـار شـاهي تـه ورلېږلـی ؤ او څـو ورځـي پـس د لقـب پـه خوشـحالۍ کـي د اقاعاقـل الدولـه پـر کـور د وزارت خـانې دعـوت ؤ......... لاکـن خلـګ لـه دې رازه نـه ؤ خبـر چـي د ژونـد پـه هـر ځیـز کـي نـر او ښـځه، مهمـل و مسـتعمل، اصـــل و نکـــل، جزکـــل طبعـــي و مصـــنوعي یـــو فطـــري عمـــل دی........ هـیڅ یـو داسـي څـوک نشـته چـي د هغـه همـزاد نـه وي او څـوک چـي بـزرګ او د لـوړ سـپېڅلي عمـل خاونـد وي نـو پـه طریقـه کـــي بایـــد اول ســـړی د هغـــه همـــزاد شـــي......... د لقـــب لمـــن هـــم دومـره پراخـه ده چـي یـو انسـان دې پـه خپـل لقـب کـي یـو عـدد منفـرد نـوی لقـب اختیـار کـړي دا بالکـل ناممکنـه ده......... کېـدای شـي چـي د دهٔ هـم همـزاد وي او عاقـل الدولـه د چـا کـم نـه دی چـي د دهٔ شـریک لقـب بـه نـه وي......... لاکـن بـد بختـۍ دی د بدمرغـه سـړي شـریک کـړی......... پـه دې کـي د دهٔ څـه لاس خـو نـه ؤ....... بلکـه دا د دهٔ د طبیعـت او فطـرت قصـور ؤ چـي د ټولـو بزرګـانو څخـه یـې حسـد او بغـض درلـود او د خپـل حسـد یـې مختلـف انځورونـه جـوړول........ پـه دې انځورونـو کـي یـو انځـور هغـه دی چـي د هغه په هکله دا مشهوره دي چي

کہ صعود ے بنو دکش نہ ہبو مل ے زپ ے است

یعنـي د اقاعاقـل الدولـه شـریک لقـب یـو داسـي شـخص ؤ چـي بالکـل د دې بـرعکس او ضـد ؤ.......... یعنـي هغـه شـخص چـي کلـه هـم دومـره اوچتـوالي تـه نـه ؤ رسـېدلی هغـه هـم پـه دې چـي هغـه په تهران کي جعلي سکې او کاغذونه جوړول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ملک کې د ذریعه معاش یوه خاصه پیشه نشته.......... په دې وجه خو د خلکو سره بله لار نشته پرته له دې د جعلي سکو او کاغذو جوړول.

د پولیس په دوتر کې د القاباتو فهرست نه ؤ.......... په نړۍ کې همېشه په شهرت اعتبار کېږي.......... په دې وجه یوه شپه اقاعاقل الدوله خپل دکور په یوه کوټه کې چې هغه د دهٔ خواب گاه وه ویده ؤ.......... نابیره یو جگ ځوان وردننه شو او کوتوالي ته یې د تللو ورته اوونیل.

د دې خبرو خلاصه دا ده چې اقا عاقل الدوله دودېرش (۳۲) ورځې په کوتوالۍ کې بندي ؤ.......... لاکن د دهٔ روح یې د ازادۍ د تهمت څه مجروح کړه.......... د دې مقدمې څخه خلاصون څه اسان نه ؤ.......... نهه سوه څلرویښت (۹۲۴) روپۍ پر مقدمې ولگېدې او دودېرش (۳۲) ورځې یې په بندي خانه کې تېرې کړې.

اقاعاقل الدوله دا اعتراف اوکړو چې زما په زهن کې هغهٔ ورځ دهو که راغله په کومه ورځ چې ما دا لقب اختیار کړ، او که تاسو اووینې چې اقاعاقل الدوله یوه ورځ د خپل لقب څخه استعفٰی ورکړه نو تاسو په تعجب کې کېږۍ مهٔ او دا استعفٰی د دهٔ کم عقلي مهٔ گڼې............ د دهٔ په مازغو کې اوس هم لطیف فکرونه شته......... صرف رسماً له دې دستبرداره کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مینځه

د شپې........

دېرش کلنه وارکا په کراره کراره ځانګو ځنګوي چې په هغه کې یو ماشوم پروت دی. دا په کراره غږ هغه ته اللّٰه هو وايي.

اللّٰه هو للو للو، خوب دې درشي په لېمو......ویده شه لالیه ویده شه، زه ګوره تاته اللّٰه هو وایم.

ځانګو ته مخامخ یو شین څراغ بل دی او په کوټه کې په رسۍ باندې تور پتلون او یو څو کوچني کوچني قمیصونه راځوړند دي چې د هغو اوږده اوږده سوري پر وارکا او ځانګو باندې نښلي.

د څراغ د بتۍ د رڼا د خوزېدو سره دا سوري هم په اتڼ اخته شي. لکه چې په تند باد کې چې پاڼې په رپېدو شي.

په کوټه کې یو داسې بې خونده بوئ خور دی لکه چې د ګوبي ښوروا یا دا کوټه د موڅې دکان وي.

ماشوم په ژړا دی....... هغه هم داسې په ژړا لکه د ډېرې ژړا پس خپله پاته ژړا برقراره ساتي او هغه هم نه ده معلومه چې کله چپ شي.

خوارکۍ وارکا ته خوب ورځي........ سترګې یې له خوبه ډکې دي..... له خوبه سر وربانديې زړېږي........ په مغزي یې هم ډېر سخت درد دی..... دومره وس نشته کې چې خپلې سترګې یا شونډې وخوځوي......... سترغړي یې له ډېره ناخوبۍ د مخ په کاسه کې ننوتلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله هـو للـو للـو، سـتا بـلا پـه لويـو غرو........ويـده شـه لالیـه ويده شه.

چمچمـاران پـه يـو داسـي بېسـوره راګ کـي مصـروف وو چـي ټول ماحول يې په سر اخستی ؤ.

د ځنـګ د کـوټې ځخـه د ځښـتن او د هغـه د مېرمنـي د خـراري غـږ هـم تـر وارکـا رارسـېدی......... د ماشـوم ځـانګو پـه يـوه غمجنـه غـږ غږېدلـه........ دې ټولـو غږونـو يـو تسـکين بخښـونکی راګ جـوړ کړی ؤ........ هـم د هغـو خلګـو د پـاره چـي پـه خـوازه خـوب پـر خپلـو بسـترو پراتـه وو....... لاکـن پـه دې وخـت کـي دا راګونـه ډېـر تکليـف ده ښـکاره کېدو......... هغـه پـه دې وجـه چـي په دې راګو کي د وارکا ويدېدل يقيني ؤ.

کـه خـدای مـهٔ کـه، خـدای مـهٔ کـه وارکـا ويـده شـوه نـو د دې ځښتن او د هغه ښځه به د دې هڅونه ورمات کړي.

د ځـراغ رڼـا ييـا پـه نځـا شـي........ د دې پـه تتـه رڼـا کـي اوږده اوږده سـوري پـه حرکـت کـي راشـي کـومي چـي د وارکـا د سـترګو نـيم خـوابي او د سـترې دمـاغ پـه مـخ کـي پـه ګـرد کـي پـټ انځورونـه ښـکاره کـوي. اوس د دې پـه سـترګو کـي پـه ګـرد کـي پـټ دا انځورونـه د يـوې تـوري وربځـي شـکل اختيـار کـړي کـومي چـي پـه اسـمان کـي د يوبـل پسـې پـه ګـردش کـي وي......... نـابېره تېـز شـمال راشـي او دا ټـولي وربځـي سره ګـډې وډې کـړي. اوس وارکـا د کيچـړه ډک واټ (سـړک) وينـي چـي پـر غـاړه يـې د صـبر ونـي قطـار در قطـار ولاړې دي او د هغـو پـه مـنځ کـي خلـګ پـر ووږو بوجۍ اخستي ډېر په ضعيف انداز روان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم په هغه وخت دا ټول خلک سره د خپلو بوجیو په دې کیچړ کې ولوېږي.

تاسو ولې وغورځېدی؟ .......وارکا د دې خلکو څخه پوښتنه اوکړي.

هغوی ځواب ورکړي چي ! د ویدېدلو د پاره.

د دې خبري سره سم هغوی ټول په خوا ږه خوب ویده شي...... بلي خوا ته کارغان او ګورګوتان (چیل، د باز په شان مرغه) د برق (بجلۍ) پر تارو ناست د ماشومانو غوندي پر دې خلکو باندي نارې وهي.

اللّٰه هو للو للو، ویده شه لالیه ویده شه............. وارکا د ځان سره زمزمه کوي او هغه خپل وجود په یوه کیږدۍ کي اووینې چېري چي د دې مرحوم سپین ږری پلار پر مځکه پروت له درده یې زګېروی خېژي.

دومره درد چي له خولې څه یې تش اف، اف، اف خېژي.

د دې مور پلیو ګیویا په کور کي نشته............ هغه تللې ده او څښتن ته حال ورکوي چي یافین مري.

ډېر وخت اوشو تر اوسه نه ده راغلې باید چي په دومره وخت کي هغه راغلې وای.

وارکا انګېټۍ ته نږدې ناسته د پلار زګېروی اوري......... هم په هغه وخت د کیږدۍ څه دباندي د موټر غږ راشي......... یو ځوان ډاکټر کیږدۍ ته راننوزي......... د تیارې په وجه د هغه مخ سم نه معلومېږي......... وارکا د ډاکټر صرف دا الفاظ واوري چي ! رڼا جوړه کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلیوګیویا د مومباتۍ پسې ګرځي........ یوه دقیقه په دې انتظار په ډېره خاموشۍ تېره شي........ دفعتاً ډاکټر خپل د جیبه څخه مومباتۍ را اوباسي او روښانه یې کړي.

محترمه داهم داسې روښانه پرېږدی زه اوس راځم.......پلیوګیویا ډاکټر ته دا خبره اوکړي او له کېږدۍ څخه دباندې اووزي.

د مومباتۍ کوچنۍ ټوټه له کېږدۍ څخه دباندې پیدا کړي او را یې وړي.

نابېره د یافین سترګې رڼې را او خېژي لکه هغه چې د ډاکټر او کېږدۍ پرته یو بل خاص څیزویني.

محترمه په کومو سوچونو کې یې ؟ له کومه راهیسې په تکلیف یې ؟ډاکټر له دې څخه پوښتنه وکړه.

ډاکټر صاحب ! زه مرمه ........زما وخت رانږدې دی........ لږ سات پس به زه له دې ژونده خلاصېږمه.

بد مرغه خبرې مه کوه....... موږ دا یو ستا درملنه کوو .

په دې ښه عمل موږ غریبان ستا مننه و یو........ داسې معلومېږي لکه مرګ چې راشي او بیا له دې څخه ځان بچول.... ؟؟

ډاکټر تر نیم ساعت پورې د یافین د کتلو وروسته ورته اووایې چې دا قصه زما تر وسه تېره ده........ ته داسې وکړه ته لوی روغتون ته ولاړشه...... هلته ستا درملنه کېدای شي...... زر ځه...... اول هم ډېر ناوخته شوی دی........ داسې نه چې د روغتون زمه واران ویده وي. ....... خیر ته د دې غم مه کوه ...... زه یوه پانه درلیکم........ اورې که نا ...؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مننه ډاکټر صاحب ....... خو دی دومره لېري ځنګه په پښو ولاړشي؟ زمونږ سره داسي رېړی (کراچی) هم نشته ....... پلیو ګیویا دې ځوان ډاکټر ته په عاجزی سره اووایي.

تاسو هیڅ غم مه کوی...... زۀ ستاسو ښځي ته وایم هغه به تاسو ته د اس ټانګه راولېږي.

د ډاکټر د تلو سره سم مومباتی هم مړۀ شي.

بیا هغه د اف،اف غږ تر غوږو شي..... نیم ساعت پس و کیږدی ته نزدې د اس ټانګه اودرېږي.

دا ټانګه د یافین ښځي د یافین د پاره رالېږلې وه چي هغه روغتون ته پکي ورسوي.

یافین روغتون ته تللی دی....... اوس نو ورځ هم ده.......... پلیو ګیویا پر کور نشته ولي چي هغه د یافین پو ښتني ته روغتون ته تللې ده.

یو ځای د ماشوم د ژړا غږ راشي. وارکا بیا په زمزمه شي.

الله هو للو للو ، ویده شه زما لالیه...........

په دې وخت کي پلیو ګیویا بېرته راشي........ په سینه د صلیب نخښه جوړه کړي او وارکا ته په ډېره همدردی او کراره دا اووایي چي! تر ماخوستنه خو ډاکټرانو دی جوړ کړو خو سهار په سپېدو کي د خپله روح و خدای ته وسپارله......... خدای دي د دۀ روح ښاده لري....... هغو وئیل چي ډېر ناوخته مو روغتون ته راوړی....... په کار دا ؤ چي وختي مو راوړی وای.

د دې اورېدلو سره سم وارکا په چغو سر شي....... دفعتاً په دا وخت کي یو ځوک د دې پر سر داسي وار وکړي چي د دې تندی د وني سره ولګېږي.......کله چي دا سترګي خلاصي کړي نو مخ ته ورته خپل ښځتن پاپوش ولاړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بــــې شــــرمي........ ماشـــوم ژاړي او تـــهٔ کــــاره ويـــده يـې.......... پـاپوش د دې خبـري سره سم د وارکـا پـه سر چپلاخـه ورسره کړي.

وارکـا سـر وشـوروي او بيـا ځـانګو ځنګـول پيـل کـړي........ بيا د هغې د خولې څه د الله هو للو للو غږ راوزي.

پـه کوټـه کـي د رڼـا خـال او سوري داسي لکـه چي وارکـا تـه سر ښـوروي..... لـږ سـات پـس بيـا هغـه ټـول خيـالات د وارکـا پـر دمـاغ قبضــه وکــړي........ اوس بيــا هغــه د کيچــړه ډک واټ ( ســړک ) ويني چي پـه هغـه بانـدي د بوجيـو والا خلـک پـه خـواږه خـوب ويـده دي.......... د وارکـا پـه زړهٔ کـي هـم راشـي چـي داهـم لـږ سـات د دې خلګــو پـــه څيــر بايــد چــي ويــده شــوې وای خــو د دې مــور پليوګيويـا د دې سـره ده......... هغـه دا پــه مـخ پـوري وهــي...... دوی دواړي د روزګار په لټون د ښار خواته رواني دي.

د خـدای د پـاره مـوږ تـه يـو څـه خېـر راکـړی........ د خـدای د پاره زموږ مرسته وکړی.

د دې مور و هر چا ته لاس غزوي.

ماشــوم دلتـــه راوړه....... يـــو مانوســـه غـــږ د دې تـــر غـــوږو شـــي...... ماشـــوم دلتـــه راکـــړه... بيـــا هغـــه غـــږ د دې پـــه غـــوږو ولګېږي. ....... تهٔ اورې که نه بدبختي جينۍ....؟

پـــه دې غـــږ وارکـــا جســـته را وغـــورځي. هغـــه دا معلومـــول غـواړي چي قصه څـه ده. نـهٔ هغـه واټ ( سـړک ) شـته ، نـهٔ د دې مـور او نـهٔ هغـه خلـک د کومـو چـي د دې مـور خېر غوښتی..... کـه څـوک شـته نـو د دې څښـتنه، چـي هغـه هـم و ماشـوم تـه د پيـو ( شـېدو ) د ورکولو د پاره راغلې ولاړه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وارکا په دې انتظار ولاړه ده چې ځښتنه ماشوم ته پئي ورکړي نو دا به يې بېرته ويده کړي.

له دربچو څه رڼا په ګرځ کې پټه ښکاري....... په کوټه کې د جامو سوري او د رڼا خال هم په زېړ رنګ اوړي.

لږ سات پس سهار شي.

دا واخله يو يې سه...... ټوله شپه يې ژړل........ داسې معلومېږي لکه کوډ ي چې په شوي وي.

وارکا ماشوم په ځانګو کې پرېباسې او د ځانګو ځنګول پيل کړي..... د رڼا خال او سوري تقريباً ختمې شوي دي.،،،،،، په کوټه کې يو داسې ځيز هم نشته چې د دې پر دماغ قبضه اوکړي......... خو دا ويدېدل غواړي.

وارکا خپل سر د ځانګو پر يوه څوکه کښېږدي......... هڅه يې دا وي چې خوب ورله را نشي......... خو چېري..... د هغې سترګي سره ورځي او وار په وار درنېږي.

وارکا په انګېټې کې کوئله واچوه.........هغه د دروازې څه د ځښتن غږ واوري.

اوس نو وخت راغې چې وارکا د کور د کار د پاره ولاړه شي. هغه ځانګو پرېږدي او ګودام ته منډه کړي. اوس هغه لږ خوشحاله ده ولي چې د بدن حرکت د خوب غلبه کموي.

په انګېټې کې د کوئلې د اچولو پس هغه دا محسوسه کړي چې د هغې د مخ تازګي هم ورو ورو بحالېږي.

وارکا سماوار تود کړه........ د دې ځښتنه پر دې غږ کړي.

وارکا زر زر د لرګيو کوچني توکړې ماتول پيل کړي....... دې ته يې لا ترا اوسه اورنه دی اچولی چې يو تازه حکم يې ترغوږ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وارکا د ښځینتن غټ بوټان صفا کړه.

هغه غټ بوټان راواخلي او لاندي پر فرش باندي کښېني....... په دې سوچ کي چي ښو مره به ښه وای چي لږ سات د پاره په دې غټ بوټ کي مي سر ننه ایستلی وای او لږ خوب مي کړی وای.

یو دم بوټان لوی شي او په کوټه کي و دېوالو او چت ته ورسېږي..... د وارکا د لاس ښځه برش ولوېږي........ خو هغهٔ په هغه وخت سر ته ښنده ورکړي. خپلي سترګي خلاصي کړي او په کوټه کي و هر شیز ته داسي وګوري چي هغه د دې په سترګو کي حرکت ونهٔ کړي.

وارکا پایې (سېړی) ومینځه..... داسي خیرني پایې چي ګراک یې اووینې نو به څهٔ فکر کوي. زهٔ خو په دې شرمېږم. ..... د ښځینتني غږ یې تر غوږو شي.

وارکا د پایو (سېړیو) سره سره ټولي کوټي هم صفا کړې. د دویم سماوار د تودلو پس دکان ته منډه کړي.......... دې ته هلته ډېر کار پروت دی..... د دې د پاره یوه یوه دقیقه قیمتي ده........ تر دې به بل تکلیف ده کار نهٔ وي چي په اشپز خانه (باورچي خانه) کي و الوګانو (پټاټو) ته کښېني او هغه رېزه کوي.

د وارکا سر بیا درونډ شي.......... الوګان (پټاټې) د دې په مخ کي نڅا کوي. چاړه د دې د لاسه ولوېږي.......... په دې وخت کي د دې په غوږو کي د ښځینتني غږ راشي چي د دې په څنګ کي ولاړه غږېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولــه ورځ جــامې وينځــل، لوښـــي صــفا كــول، ډوډۍ او كتــغ پخــول د الوګانو (پټــاټو) د رېــزه كولــو غونــدي تكليــف جــن دى. كلــه كله خو له دې كاره څخه تنګه وار كا په وچه ځمكه ويده شي.

ورځ تېره شي......

د دربچــو څــه د تيــاره ليــدلو ســره ســم وار كــا خپــل د ســر ټېكونــه ټينــګ ونســي. هغــه هــم لكــه يــو چــا چــي تراشــلي وي. ...... اوري .........خو نځۍ چي ولي نه پوهېږي.

د ماښــام تيــارې د دې د پــاره د خــوب زېــرى راوړي. خــو لــه بــده مرغه لږ سات پس مېلمانه راشي.

وار كــا ســماوار تــود كــړه......... د دې څښــتنه پــه جــګ غــږ د دې ته حكم وركړي.

پــه اصــل كــي ســماوار كــوچنى دى.......... د مېلمنــو د پــاره پنځه شپږ واره تود يږي.

وار كا ورشه په منډه درې بوتله بئير (شراب) راوړه.

وار كــا پــه دې خيــال چــي پــه منــډه بــه خــوب رانــه وتښــتي يــوه تېــزه منډه واخلي.

وار كــا دود كــا (د روســي شــراب يــو قســم) راوړه..... وار كــا د بوتــل د خلاصــولو اوزار راوړه....... وار كــا دا جامونــه خــو لــږ صــفا كړه.

خېــر اخــر مېلمانــه هــم رخصــت شــي.... د كــوټې رڼــا ګــل كــړي..... د دې څښــتن او څښــتنه دواړه د ويدېــدو د پــاره خپلــي كوټې ته ولاړ شي.

وار كا ځانګو ځنګوه......... دا د څښتني اخري حكم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انګېټېی په بخاری کې چمچماران بیا هغه بې سوره راګ پیل کړي. د رښا خال او د جامو سوري بیا د وارکا په مازغو قبضه کول غواړي.

ویده شه زما لالیه ویده شه....... دا بیا هغه زمزمه پیل کړي..... ماشوم په چغو شي. په ډېرو چغو ستړی شي. وارکا بیا هغه د کیچړه ډک واټ (سړک) ویني. هغه د بوجیو والا خلک، خپل مور پلیو ګیویا او پلار یا فین ویني..... هغه دا د ګړځه ډکه انځورونه ښه پېژني او ښه پرې پوهېږي........ خو نیم خوابي د دې لاس او پښې ترلي دي....... کوم چې د دې په زړهٔ یو بوج اچوي. هغه په دې نهٔ پوهېږي چې دا کوم طاقت دی.......... د دې طاقت د لیدلو په هڅه کې دا شاوخوا اوګوري.......... هغه هم په دې چې د دهٔ له لاسه څخه ځان خلاص کړي. خو بې فائدې..... اخر کار د دې لټون څخه تنګه راشي. هغهٔ د هغه وخت په لټون کي خپل ټول توان پکار راولي.

د رښا خال او د جامو د سورو پرته هغه خپل دښمن پیدا کړي...... چې د دې د ژوند د سکون د لاري ازغی ؤ.

هو....... هغه ماشوم

هغه په خندا شي چې دومره اسانه کار د دې په خیال کې اول ولي نه ؤ راغلی.

د رښا خال، سوري او چمچماران هم ورته په مسکي کې متحرک شي.

دا خیال د وارکا په دماغ بالکل قابض شي......... د چوکۍ څخه راولاړه شي.... بغېر د سترګو د رپه یو مهم څیز ته ګوري او په کوټه کي ګرځي را ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغــه خوشــحاله ده، او دا خیــال د دې خوشــحالي یــو پــه دوه کــوي. ...... د لــږ ســات پــس هغــه چــي د دې پښنــې او لاســونه یــې ترلي دي........ موجود نه وي.

د ماشوم د مرګه پس، خوب.....خوب......خوب

د رڼــا خــال تــه پــه مســکا شــي........ ســترګي او د لاســونو ګــوتي یــې پــه رپېــدو شــي او کــرار کــرار د ماشــوم د ځــانګو خــوا تــه روانه شي.

د ماشــوم د قتلولــو پــس دا فــوراً پــه ځمکــه پرېــوزي......... لــه ډېره خوشحالۍ په خندا شي چي اوس به په ارامه خوب وکړي.

لږ سات پس هغه په خوا ږه خوب ویده شي.

د مرګ په خوب ویده شي...................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بزرګ غویی

د نیـــل د ســـیند پـــه غـــاړه یـــو ځـــوان بزګرخپـــل غـــویی څـــروو......... د دهٔ د دې غـــویي ســـره بـــې کچـــه مینـــه وه......... دا غـــــویی د دهٔ د روزی، ذریعـــــه او د ژونـــــد ملګـــــری ؤ.......... دې ځـــوان بزګـــر لـــه لیـــري څـــو خلـــګ اولیـــدل چـــي د دهٔ پـــر خـــوا راروان وو......... کلـــه چـــي هغـــه نـــزدې راورســـېدل نـــو دا معلومـــه شـــوه چـــي دوی د اوزیـــــرس دیوتـــــا ( د لمرخـــــدای) منـــــونکي دي.......... کـــاهن ( د دې عقیـــدې عـــالم) چـــي کلـــه غـــویي تـــه پـــام شـــو نـــو د غـــویي خـــوا تـــه راغـــی.......... د هغـــه جـــائزه یـــې واخســـته......... غاښـــونه یـــې ور وشـــمارل او بیـــا نـــابېره دا راغلـــي خلـــګ پـــه ســـجده پرېوتـــو........ بزګـــر چـــي دا اولیـــدلو نـــو حېـــران شـــو چـــي دا څـــهٔ کیســـه ده؟ کلـــه چـــي هغـــوی د ســـجدې را پورتـــه شـــو نـــو یـــې بزګـــر تـــه او وئیل.چي!

اې ځوانـــه! تـــهٔ ډېـــر خـــوش نصـــیبه یـــې.......... د لمـــر خـــدای تاتـــه یـــو بـــې نظیـــره( چـــي مثـــال نـــهٔ لـــري ) نعمـــت درکـــړی دی......... تا ته د بزرګ خدای غویي ( ایبس ) ملګرتیا حاصله ده.

زهٔ ستاســـو پـــه خبـــره نـــهٔ شـــوم پـــوه؟ بزګـــر پـــه حېرانـــی، ورتـــه اووئیل.

مـــوږ د بـــزرګ غـــویي ایـــبس خبـــره کـــوو کـــوم چـــي دا وخـــت لـــه تـــا سره دی.

لاکن د دې غویي نوم خو داسو دی.

بچیـــه ! پـــه خبـــره ځـــان پـــوه کـــړه.......... تـــهٔ نـــهٔ ګـــورې د ایـــبس د تنـــدي نـــور؟ د دې بـــزرګ غـــویي شـــجره نســـب د زرپشـــته پـــس د لمـــر و

(c) ketabton.com: The Digital Library



خـدای تـه رسـي....... مـوږ لـه ډېـره مـودې راهيسـې د دې پسـې ګرځېـدو ........ اوس د خــدای شــکر دی چـــې د دهٔ ديــدار مــو نصيب شو.

دا تاسـو څـهٔ وايسـت؟ داسـو د لمـر د خـدای اولاد نـهٔ شـي کېدای......... د دهٔ مـوريـوه عامـه غـوا ده، او د دهٔ پـلار اوس هـم زموږ په کلي کي ژوندی دی.

چـپ شـه بـې ادبـه! زمـا د خيالـه چـي ځـان نـهٔ دی دربانـدي ګران.........پـام کـوه کـه دي د بـزرګ غـويي ايـبس پـه شـان کـي ګستاخي وکړه نو درته ښه به نهٔ وي.

زهٔ رښـتيا وايـم، داسـو يـو عـام غـويی دی...... تاسـو خامخـا دی بزرګ ګڼئ.

ښـه! نـو تـهٔ پـه خبـره سـر نـه خلاصـوې، مـوږ بـزرګ ايـبس وتـا تـه نـهٔ پرېـږدو، کـه د ځـان خېـر غـواړې نـو پـه پټـه خولـه لـه دې ځايـه ولاړ شه.

د دې خبـري سـره سـم کـاهن (عـالم) غـويی روان کـړو....... بزګـر چغـي وهـي چـي داسـو لـه مـا مـهٔ بيايـاسـت، دا زمـا د روزۍ وسيله او د ژوند ملګری دی.

د ايـــبس غـــويي غوجـــل يـــې د نـــاوې رنګـــه ښائســـته کـــړی ؤ......... د لمـر خـدای پخپلـه خپـل پـه وړانګـو د دې غوجـل (چـي دا وخـت عبـادت خانـه وه) ښائسـت يـو پـه دوه کـړی ؤ......... د عبـادت خـانې عـالم او نـور ملازمـان بـزرګ غـويي تـه يـې غسـل ورکوو.

کـم بخـت داسـو هـم پـه معتبـره غوجـل کـي ولاړ داسـي يـې دې خلګـو تـه کتـل لکـه چـي دی دا پوښـتنه کـوي چـي............ تاسـو زهٔ چېري راوستم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



یـو مـلازم د پیـو (شـېدو) ډک لګـن د دهٔ پـه مـخ کـې کېښودی....... داسو ټولي پئی (شېدې) چټې (صفا) کړې.

مـلازم اووئیـل ! چـې تو بـه څـو مره سـیوک (وړی) غـویي دی.............. ټولي پئی (شېدې) یې چټې (صفا) کړې.

د دهٔ ملګـري پـه خندا کـې ورتـه اووئیـل ! چـې ولـې بـه یـې نـه چټـوي........ نـوی نـوی د لمـر د خـدای اولاد جـوړ شـوی دی........... پخوانی عادت یې لا تر اوسه نهٔ دی تللی.

مـلازم پـه سنجیدګی سره! یـاره اوس نـو د دوی څخـه څـوک دا پوښـتنه وکـړي چـې د غـویي عبـادت کـول د کـوم ځـای عقـل منـدي ده.

ملګـري یـې ورتـه اووئیـل چـې ! وروره بلـه وار داسـې خبـره تـر خولې ونهٔ باسې، که چا واورېدل نو خېر به دې نه وي.

مـلازم بیـا اووئیـل ! نـا یـاره، دا واقعـي د سـوچ خبـره ده........ د دې قسـمه عملیـاتو څخـه سـاده خلـک خـرهٔ جـوړول څهٔ معنا لري؟

یـو عـالم دا خبـري اورېـدلې، هغـه د دوی څنـګ تـه راغـی او پـه ځـواب کـې یـې ورتـه اووئیـل ! چـې تاسـو زمـوږ پـه مصـلحتونو نـهٔ پـوهېږی........ دا وخـت نـیم مصـر زمـوږ پـه لاس کـې دی........ لـوی لـوی شـاهان مـوږ تـه بـاج (ټېکس) راکـوي.......... خبـر یـې دا ولې؟

ولـې چـې اولـس تـو هم پرسـت دی......... کـه اولـس راپورتـه شـي، د علـم رڼـاوي خـورې کـړي، جهالـت ختم کـړي نـو پـه دوی او موږ کې څه فرق؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو په دې زما خوږه وروره دا خبري پرېږده، اولس بې وقوفه کړه، په دې کي زموږ ګټه ده.

ملازم پوښتنه ځيني وکړه ! لاکن ما خو اورېدلي دي چي کاهن اعظم (لوی عالم) په خپله د غويي د عبادت پرستی خاص په حق کي نه دی؟

کاهن په ځواب کي ورته او وئيل !

زه په دې نه يم خبر، خو که داسي وي نو د هغهٔ ماژغه خراب شوي دي........... هغهٔ بايد چي له خپلي زمه واری ښخه لري کړل شي.......... داسي خلګ د مصلحت او د ملکي مفاد دښمنان دي.......... د هغهٔ ختمول به ډېر ګټور وي............ سبا جشن ايبس (د ايبس د زوکړي ورځ) دی، موږ ته پکار دی چي د بزرګ غويي جلوس په ډېر دربي راوباسو....... اولس په دهوکه کي ساتل تر دې ښه کار نشته.

په ښار کي جشن ايبس په ډېر جوش و خروش سره لمانځل کېدی. سهار وختي داسو ډېر ښائسته بزرګ ايبس جوړ شوی د عبادت خانې راووت......... د عقيدت مندانو يو سېلاب پر دهٔ رامات شو......... ډېر وخت پس و جلوس ته دا موقع راغله چي هغه روان شي......... د جلوس له مخه د عبادت خانې کاهنان (عالمان) په يوه نهٔ پوهېدونکي ژبه يې ترانې وئيلې او روان وو....... په کوڅو کي د ښڅې اېښودلو ځای نهٔ ........ د کورو پر بامونو ښځي او ماشومان ولاړ پر بزرګ غويي (داسو) باندي يې ګلان پاشل.

د داسو مالک (بزګر) هم په دې ورځ د غوا (د داسو مور) د خرڅولو د پاره ښار ته راغلی ؤ......... هغه چي دا جلوس وليدو نو د غوا سره يوې خوا ته اودرېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسو چي کله د دوی له ځنګ سره تېرېدی نو يې پر خپل مالک (بزګر) او په موريې سترګي ولګېدي........ نابيره يې ور وځغاستل............... کاهنانو (عالمان) د دهٔ د نيولو ډېر کوشش اوکړ......... خو هغه د دوی په لاس نه راغی......... بزګر د دهٔ (داسو) د هرکلي د پاره ور مخ ته شو او په زګېروي يې ورته اووئيل !

تهٔ څومره بد نصيبه يې داسو ! خلک تا خپل خدای جوړول غواړي او تهٔ يې چي له ما سره مينه کوې ، او پر خپل بزرګ ژوند باندي تهٔ و هغه طبعي ژوند ته ترجيح ورکوې.؟

کاهن چي کله دا واورېدل نو په چغو شو ! د دې کافر سر ور پرېکړی.......... دی زموږ د خدای توهين کوي.

د عقيدت مندانو يو هجوم پر دهٔ رامات شو........که پوليس نه وايې نو دې خلګو به واقعي دی وژلی وای.

پوليس دی د خلګو څه خلاص کړی او تهانې ته يې راوستی.

تهانه دار ورته وئيل !

پر تا د کفر الزام لګېدلی دی، تا بزرګ غويي ته د داسو په غليظ نوم ورغږ کړي دي.

هو ! د هغه نوم داسو دی، هغه زما غويي دی، دې خلګو زما غويي په بدماشۍ له ما څخه راوستی.

تهٔ يا د بزرګ ايبس توهين کوې.......... تهانه دار په غصه ورته اووئيل.

کومه خبره چي وه ما درته عرض کړه........ زهٔ رښتيا وايم د دهٔ نوم داسو دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې کم عقله هر ځای رښتیا نهٔ وئیل کېږي.

نو تهٔ دا غواړې چې زهٔ دلته درواغ اووایم.؟

نا ! خو بیا هم تاته دا حق نشته چې د نورو خلګو مذهبي جذبات مجروح کړې.

دا نور څوک دي ؟

موږ ټول، د دې ملت وګړي.

ولې زهٔ د دې ملت وګړی نه یم ؟

څهٔ، څه دي اووئیل؟

تاسو مهرباني وکړی زما غوږیی ماته ځنې راکړی........ زهٔ له دې ځایه ځم.

کم عقله کله چې د ملت خبره اوشي نو د هغه څه مراد یوه خاصه طبقه، ستا رنګه غریب بزګر د ملت وګړی نهٔ شي کېدای.

بزګر یې د پولیس په حفاظت کې د کاهن اعظم (لوی عالم) په مخ کې پېش کړو............ هغه د څه سوال او ځواب پس ورته اووئیل چې !

تا د حکمرانې طبقې د جذباتو توهین وکړ............ دا تا ښه نه وکړو.

ولې زما هیڅ جذبات نشته؟

ستا خبره هم پر خپل ځای ټهیک ده.......... خو تاته دا نهٔ پکار چې تا دا خلګ مشتعل کړي وای.

ښه ! نو ته غواړې چې زهٔ په څه خبر نهٔ خبر د دوی په عقیده یقین وکړم.

نا، زما ګرانه نا.......... زهٔ دا نهٔ غواړم.......... زهٔ وایم چې دا ژوند د مختلفو خوندونه څه ډک شوی دی.......... باطل د زرګونو کلونو څه د انسان په زړهٔ کې خپل ځای جوړ کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی............ په دوی کې دومره صلاحیت نشته چې حق وپېژني............ که څوک د دوی له مخه د دروغو پرده لري کول او غواړي نو دوی فوراً د هغه د سر د ماتولو پسې را روان شي....... زهٔ تا د دې ظالمانو بچ کول غواړم........... وایه زهٔ ستا څه مدد کولی شم؟

زهٔ نهٔ غواړم چې تهٔ زما د پاره ځان و سختو ته مخامخ کړې....... بزګر ورته او وئیل.

زهٔ د دې خود فریبه ژوند څخه بېزاره شوم.......... زهٔ له مرګه نه وېرېږم.......... ولې چې وجدان او ضمیر فتح کول حقیقي ژوند دی.

د دې وئیلو سره سم کاهن اعظم (لوی عالم) خپله رسمي او روایتي چپنه وباسي او یوې خوا ته یې وغورځوي....... بزګر د ځان سره کړي او سیدها عبادت خانې ته ولاړ شي..........
کاهنان د بزرګ ایبس ترانې وایي.

کاهن اعظم (لوی عالم) پر منبر ودرېږي او په اوچت غږ خلک مخاطب کړي.

زما بچو ! هغه وخت راغی چې زهٔ نن ستاسو مخ ته د زړهٔ خبره اوکړم.......... د دې خبري سره یې حکم اوکړ چې پردې لري کړی.........د پردو په اخوا د بزرګ غویي (داسو) غوجل وي، چېري چې نور غویي هم تړل شوي وي.......... داسو د ټولو غوایو په منځ کې پر یوه جګ ځای ولاړ وي........... کاهن اعظم (لوی عالم) د دهٔ خوا ته په اشاره او وایي چې !

دا داسو دی.......... چې تر پرونه پوري یو عام غویی ؤ......... او نن زموږ خدای دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـوږ تــه پکــار دی چــي د دهٔ عبــادت او کــړو او د دهٔ قــرب حاصــل کړو.

جـذباتي کاهنــانو کــاهن اعظـم (لـوی عــالم) و نــورو خبــرو تــه پــرې نښــودی.......... د هـري خـوا ځخـه پـر کـاهن اعظـم (لـوی عـالم) باندي رامات شول.

بزګـر د دې موقـع ځخـه ګټـه تـر لاس کـړه او د هغـه ځـای يـې ځـان اوباسو.

خو !

کاهن اعظم (لوی عالم) .............. ؟

# پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ماخذات

(۱)افسانه؛ پرایه بچه......فارسي ليکوال..... جلال آل احمد.....اردو ترجمه.......بزل حق محمود........... ماخذکتاب........محرم‌راز

(۲)افسانه؛ ماں ....... فارسي ليکوال........جهانګيرجليلي........اردو ترجمه.......پروفېسر قاضي فضل حق محمود (مرحوم)....... ماخذکتاب.........محرم‌راز

(۳)افسانه؛ عاشق صادق........ فارسي ليکوال.......مير جعفرحجازي..........اردو ترجمه........ پروفېسرفضل حق محمود (مرحوم).......ماخذکتاب............محرم‌راز

(۴)افسانه؛ دم واپسي.........فارسي ليکوال......... مستوره افشار...........ماخذکتاب.........مجله‌فارسي..........ستارګان‌سياه

(۵)افسانه؛ چهان، بوره، بوتل.......... فارسي ليکوال........ علي دشتي......اردو ترجمه..........پروفېسر فضل حق محمود (مرحوم)....... ماخذکتاب........محرم‌راز

(۶)افسانه؛ لقب........ فارسي ليکوال....... سعيدنفيسي........اردو ترجمه..... حامد حسن قادري.........ماخذکتاب.......ايراني جديدافسانې

(۷)افسانه؛ خادمه........روسي ليکوال...... چيخوف........ اردو ترجمه.......سعادت حسن منتهو......... ماخذکتاب.........روسي ادب کې‌شاهکار

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۸)افسانه؛ مقدس بیل........فارسي لیکوال........عبدالرحمن فرامرزي........اردو ترجمه............. پروفېسرفضل حق محمود (مرحوم)........کتاب......محرم‌راز

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**